
# الرساله
Al-Risala

**جولای، ۲۰۲۶ز**



د حضرت ابراهیم علیه السلام د ژوند سبق ـــــــــ د خدای په دې دنیا کې هېڅ «غروب» وروستی نه دی. هر غروب ته نوی طلوع ټاکلی دی.

# الرساله

Al-Risala

## جولای، ۲۰۲۶ز


**مولانا وحیدالدین خان**


**(د الرساله په ټولو ګڼو کې د قرآن کریم پښتو ژباړه د مولانا فاروق غلجي صاحب له ترجمې رااخیستل شوې ده.)**

بسم اللّٰه الرحمن الرحيم

تر ټولو ډېر په خبرو کولو هغه شخص پوهېږي چې تر ټولو ډېر چوپ پاتې کېدل يې زده وي.

★

د دوو کسانو په خپلو کې دښمني شوه. هر يو په دې هڅه کې و چې بل لوري ته بدنامي او زيان ور واړوي. خو وروستی شی چې د دواړو په منځ کې يې پرېکړه وکړه، هغه مرګ و. مرګ هر يو هماغه قبر ته ورساوه چې دواړو د يو بل لپاره غوښت ـــــــ د مرګ دغه پېښه هره ورځ زموږ مخې ته پېښېږي، خو هر يو داسې انګېري چې دا واقعه د هغه شخص لپاره ده چې ورسره پېښه شوې ده. پخپله د ځان لپاره په کې هېڅ څوک سبق نه مومي.

★

د پوهنتون استاد خپل ملګري ته د الرساله مياشتنۍ په هکله ووېل:

IT PRESENTS ISLAM AS A LIVING FAITH.

الرساله، اسلام د ژوندي دين په حيث وړاندې کوي.

★

په مکه کې چې دښمنانو د خدای د رسـول صـلی اللّه علیه وسلم د بې کوره کولو طرحه جوړه کړه، نـو خـدای د خپل رسول لپاره یوه بلـه سـتره دروازه پرانیسـتـه، خدای مدینه د اسلامي دعوت مرکز وګرځوله. دا د اللّه تعالی خاص سنت دی. یو لوری چـې ځـان د حـق لارې د بندولو مجرم ثابت کړي، نو خدای بل لوري ته د حـق د هرکلي ویاړ ورښي. په دې ډول یو لوری له کریډېټ نه محرومو ي او بل لوري ته د کریډېټ تاج ور په سروي.

★

چې تیارې راشي، تیارې مه رټئ، څراغ ولګوئ، تیـارې به خپله ختمې شي.

★

خبره دو خت ده، دقیمت نه ده

اکسفورډ پوهنتـون پـه ۱۱۶۳ز کـې جـوړ شـو. د دې پوهنتون شنه زرغون چمنونه په ټوله دنیا کې مشـهور دي. یوه امریکایي بیلیونر چې دغه چمنونه ولیدل، ډېر زیات یې خوښ شـول. زړه کـې یـې ور وګرځېـدل چـې همداسې چمنونه په خپله ماڼۍ کې هم وکـړي. هغـه د

اکسفورډ پوهنتون له باغوان نه وپوښتل، «دغه ډول چمنونه به په څومره ډالرو وشي؟»

باغوان په سنجیده ژبه ځواب ورکړ، «وړیا.»

«هغه څنګه؟»

«داسې چې په خپل انګړ کې ځمکه هواره کړئ، واښه وربانديې وکرئ. واښه چې لوی شول، نو له پاسه يې وربېبئ او د وښو رېبلو رولر وربانديې تېر کړئ. همدا کار پنځه سوه کاله وکړئ. پنځه سوه کاله چې پوره شول، نو همداسې چمنونه به ستاسې په ماڼۍ کې هم تيار شي. خبره د وخت ده، د قيمت نه ده.»

★

لوېدلي لمر د چا شپې نه دي رڼا کړې. خو څومره خلک دي چې لا هم په دې خبره احتجاجونه کوي چې د ماضي تحفظاتي دور ولې د دوی لپاره بېرته نه راګرځي؟

★

**بسم الله الرحمن الرحيم**

یوه تعلیمیافته شخص وویل، «الرساله یو ډول فابریکې ته ورته ده. دې کې فکري وسایل تولیدېږي چې خلك ځانونه وربانديې مسلح کړي او په خپلو خبرو، ویناوو او لیکنو کې یې وکاروي.» د الرساله په باره کې دا تبصره ډېره بامعنا ده. حقیقت دا دی چې د الرساله مقصد خلکو ته دیني وسله ورکول دي. زموږ چارچاپېر بې شمېره معلومات خواره واره دي. خو د دې معلوماتو مثال، په ابتدایي حالت کې، د سرو زرو د کان په څېر دی. د خاورو او تیږو په انبارونو کې چې سره زره په څه ډول پټ وي او په ډېرې باریکۍ له هغو جدا کېږي، همدا ډول د معلوماتو په دې انبار کې هم هغه شیان خواره واره پراته دي چې دیني اړخ لري او دیني سنګر تقویه کولی شي.

په الرساله کې د معلوماتو له همدې انبار نه د دیني ارزښت شیان چاڼ کېږي او په نوي اسلوب کې د لوستونکو مخې ته ایښودل کېږي ترڅو له یوې خوا دوی د ځان لپاره هم دیني غذا حاصله کړي او بلې خواته د دعوت کار هم وکړي.

★

## انګلستان ولې له اسلامه محروم شو؟

د مؤحدين سلطنت زړور واکمن عبدالمؤمن په اندلس باندې له ولکې وروسته د ټولې اروپا د فتحه کولو هوډ درلود. خو ژوند ورسره وفا ونه کړه. دی له پنځه سوه زره نه‌ماتېدونکي لښکر سره د وړاندې تلو په حال کې و چې په جمادي الثاني ۵۵۸هـ کې يې له دنيا نه سترګې پټې کړې. خو په راتلونکي نسل کې يې د امير ابو عبدالله محمد ناصر لدين الله د حکومت په زمانه کې (۶۱۰- ۵۹۵هـ) پخپله د اروپا سياست د دې خوب د پوره کولو اسباب پيدا کړل. خو د ناصر لدين الله د بې زړه‌توب له لاسه دا خوب په حقيقت بدل نه شو.

په دې زمانه کې جان لاک لينډ (۱۲۱۶- ۱۱۶۷ز) د انګلستان بادشاه و. همدا هغه بادشاه و چې د خپلواکۍ په مشهوره اعلاميه ميګنا کارټا يې په ۱۲۱۵ کې لاسليک کړی و. په دې زمانه کې د هېواد ځينو اميرانو د خپلو حقونو د ازادۍ لپاره غږ پورته کړ. د اميرانو او بادشاه ترمنځ کشمکش زيات شو. پاپ انوسنټ دريم (۱۲۱۶- ۱۱۶۰) په دې مسئله کې د اميرانو خوا ونيوله. د لندن پادري رابرټ، چې په دې سيالۍ کې د بادشاه په خوا و، خپل پاپ له کليسا نه وايست. په دې حالاتو کې بادشاه جان دا طرحه جوړه کړه چې د اندلس د مسلمان واکمن په همکارۍ خپلو سيالانو ته ماتې ورکړي. هغه په ۱۲۱۳ز کې ناصر لدين الله ته يو پټ هيئت واستاوه. د دې سفارتي پلاوي غړي دا وو: ټامس هارډنګټن، رالف فزنکولس، ماسټر رابرټ. دغه پلاوی د بحري سفر له لارې مراکش ته ورسېد. ناصر لدين الله همدلته مېشت و. د پلاوي غړي د سترې ماڼۍ له انګړونو او تالارونو تېر شول، دواړو خواوو ته شاهي خادمان په صفونو کې

ولاړ وو، او امیر ناصر لدین الله ته ورسېدل. هغوی امیر ته د جان بادشاه خط وړاندې کړ او د ترجمان په مرسته یې خبرې ورسره وکړې. د خپل بادشاه د هدایت له مخې انګرېز وفد ناصر لدین الله ته وویل چې که تاسې د جان بادشاه مرسته وکړئ نو موږ به ستاسې باج ګزاره شو. بله دا چې په عیسویت باندې د هغوی اعتقاد ختم شوی دی او د «افریقا او مراکش او اسپانیې د عظیم بادشاه» په لاس اسلام منلو ته اماده دی او په خوا کې یې دعا هم ورته وکړه. پلاوي د انګلستان په ستاینه کې دا هم زیاته کړه چې انګلستان کرنیز هېواد دی. وګړي یې په درې ژبو پوهېږي: لاتیني، فرانسوي او انګریزي. ډول، ډول فني استعدادونه هم لري.

خو ناصر لدین الله دا وړاندیز په ښه ووا‌هه. او د سیاسي توطیې ګمان یې ورباندې وکړ. ویې ویل «ما هېڅ کله نه دي اورېدلي چې داسې بادشاه دې چې دومره قیمتي هېواد ورسره وي، پخپله خپل ځان بل بادشاه ته سپارلی وي.» نوموړي، انګرېز پلاوی له دربار نه وشاړه او ورته ویې ویل چې بیا مو هېڅ کله ونه وینم. د دې پېښې په ترڅ کې ګیبریل روني لیکلي دي: «په دیارلسمه میلادي پېړۍ کې به انګلستان بشپړ اسلامي ملک ګرځېدلی و که ناصر لدین الله د جان بادشاه وړاندیز منلی وای.» د انګلستان د بادشاه اسلام نه منل ناصر لدین الله ته ګران تمام شول. په ٦٠٩هـ کې د اروپایي پوځونو لوی لښکر د شاه الفانسو تر توغ لاندې راټول شو او په اسلامي اندلس یې یرغل ور ووړ. ناصر لدین الله سره شپږ سوه زره لښکر و. خو د امیر د نا اهلي له لاسه لښکر سختې ماتې وخوړه. زیاتره مسلمان پوځیان د العقاب میدان کې د عیسویانو په لاس ووژل شوو. یو عظیم امکان په بدترین انجام بدل شو.

## بنده چې د خدای له ملاتړ نه محروم شي

**عن خبّاب ابنِ الارت قال صلّى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم صلواةً فاطالها. قالوا يا رسول الله صليت صلواةًلم تكن تصليها. قال اجل. انها صلوةُ رغبةٍ و رهبةٍ و انى سألتُ اللهَ فيها ثلثا فاعطانى ثنتين و منعنى واحدةً. سألته ان لا يهلِكَ امتى بسَنَةٍ فاعطانيها و سألته ان لا يسلط عليهم عدوّاً من غير هم فاعطانيها و سألته ان لا يذيق بعضهم بأس بعض فمنعنيها. (مسلم، ترمذي، نسائى)**

خباب بن ارت رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم له موږ سره لمونځ وکړ او ډېر يې اوږد کړ. خلکو وويل: اې د خدای رسوله! داسې لمونځ مو وکړ چې مخکې مو کله نه و کړی. رسول الله وفرمايل: هو. دا د هیلې او وېرې لمونځ و. ما له الله نه درې شيان وغوښتل. الله دوه شيان راکړل او له يوه نه يې انکار وکړ. ما دعا وکړه چې زما امت دې په قحطی نه وژل کيږي. دا قبوله شوه. ما دعا وکړه چې په دوی دې بهرني دښمنان نه مسلط کيږي. دا قبوله شوه. ما دعا وکړه چې زما امت ته په خپل منځ کې د يو بل د زور او ځواک خوند مه ور گوره. خو دا منظوره نه شوه.

مسلمانان له دې څخه خوندي کړای شوي دي چې هغوی دې په ارضي و سماوي آفتونو هلاک کړای شي. دوی له دې نه هم خوندي دي چې کوم بهرنی دښمن دې په دوی تلپاتې ولکه ټينگه کړي. خو يو داسې شی دی چې په هغه کې دوی د خدای په حفاظت کې نه دي. هغه دا چې يو مسلمان د بل مسلمان تر لاس او زور لاندې راشي. همدا هغه اصلي مقام دی چې له مسلمانانو نه امتحان په کې اخيستل کيږي. که دلته هم د دوی حفاظت شوی وای، نو امتحان به ختم شوی و، او دا له قيامت نه مخکې د هيڅا لپاره ممکنه نه ده.

هرکله چې داسې وشي چې مسلمان د بل مسلمان په خلاف د خپل زور په کارولو لاس پورې کړي، نو باید پوه شو چې دی هغه حد ته ننوتی دی چې خدای د خپل رسول په دعا سربېره د ده د حفاظت ژمنه نه ده کړې. هرکله چې یو مسلمان بل مسلمان ته تکلیف ورسوي، د فرصت په شېبه کې په هغه ورمنډه کړي، د هغه له ضعف نه په استفادې د هغه ځورولو ته متې راونغاړي، خپل حیثیت یوه مسلمان ته د تاوان رسولو لپاره وکاروي، نو ګواکې دا د دې خبرې ښنه ده چې بنده د خدای له پناه او ساتنې نه وتلی دی. او اوس د شیطان په حمایت کې دی، خپل ځان یې د شیطان منګولو ته سپارلی دی او شیطان د ده سترګې ړندې کړې او په ده هغه کار کوي چې الله د ابد لپاره حرام ګرځولی و. د یوه مسلمان، بل مسلمان ته خپل زور ښودل، د هغه لپاره د خوشالي خبره نه ده بلکې د ماتم وخت دی، دا ډول هره پېښه د دې خبرې اعلان دی چې بنده د رسول ص د شفاعت له حق نه محروم شوی او خپل ځان یې په یوه داسې مقام کې درولی دی چې نه یې الله ملګری دی او نه د الله رسول.

## د وني په ژبه

ونه څه ده؟ د تخم هغه صلاحیت دی چې له خاورې او اوبو نه خپل رزق واخلي او خپل ځان د تنې او څانګو او پاڼو او ګلونو په هغه مجموعه بدل کړي چې له هغې نه ډېره خوش‌منظره مجموعه په دنیا کې نشته.

د انسان مثال هم څه همدې ته ورته دی. انسان په دې دنیا کې د تخم په څېر شیندل شوی دی. او په خپلو هڅو به ځان نه «ونه» جوړوي. د خدای په دې دنیا کې د ده لپاره د رزق بې شمېره رباني فرصتونه ایښودل شوي دي. دی له دې دنیا نه خپل رزق اخیستی او د ځان لپاره یوه داسې ابدي اینده ابادولی شي چې په بل ژوند کې د جنت د شنو زرغونو باغونو په بڼه ورته تمام شي او د لازواله خوښیو سبب یې وي.

خو د دې بالعکس هغه خلک چې په دې فرصتونو کې خپله رباني برخه ونه مومي، د هغو مثال د هغه زړي په څېر دی چې په کوم کاڼي لوېدلی وي او یا یې په کومه بېکاره مځکه کې ځای موندلی وي. داسې زړی هېڅ کله د ګورې وني صورت نه مومي. دغه راز هغوی چې په دې دنیا کې یې د ځان جوړونې له امکاناتو ګټه نه وي پورته کړې، هغه ګواکې یو داسې تخم دی چې خپلو تېروتنو ونې کېدو ته نه دی پرې ایښی. دا ډول شخص به په اینده اوږدمهاله ژوند کې له ابدي مختورۍ سره مخ وي. د آخرت په دنیا کې به دی د یوه داسې ژوندون وارث وي چې له هر ډول ښېرازیو به په بشپړه توګه محروم وي.

★

# اسلام د جنتي فضا دنیوي مخ

په اوسنۍ زمانه کې ځینو مسلمانو واکمنو د خپل حکومت د استحکام لپاره دا اسانه تدبیر موندلی دی چې د اسلام په نوم خلک په درو ووهئ او بوربنوونکې سزاوې صادرې کړئ، چې ولس او انقلاب‌پاله عناصر وسهمېږي او د دوی د دیکتاتورۍ په ضد د پاڅون زړه ونه کړي. په پخوا زمانو کې به بادشاهانو داسې علماء موندل چې د دوی د هوسناکۍ د طرحو لپاره شرعي سند ور پېرزو کړي. په همدې ډول په اوسنۍ زمانه کې هم دې واکمنو ته له نېکه مرغه داسې افراد او ادارې په لاس ورغلې دي چې د دوی د تورو طرحو په باره کې دا فتوا ورکولی شي چې همدا د اسلام اصل مطلوب دی، یوازې په دې قیمت چې په عوض کې یې څه نذرانې او افتخاري دندې ترلاسه کړي.

خو اسلام د درو وهلو او بوربنوونکو سزاگانو د جاري کولو نوم نه دی. دغه ډول حدود او تعزیرات د اسلام له ټول بامعنا وجود سره بس همدومره تړاو لري څومره چې یو ژوندی انسان خپل لوی شوي نوکان غوڅوي. اسلام د خدای د رحمتونو دین دی. اسلام د جنتي فضا دنیوي مخ دی. له مرگ نه مخکې دنیا کې، له مرگ نه د وروسته راتلونکې دنیا ننداره ده. اسلام د جنتي وگړو دنیا ته نزول دی. هغه ملکوتي صفات چې خدای ورباندې یو بنده د جنت د نه بیانېدونکو خوښیو مستحق گرځوي، کله چې د دغه ډول اوصافو خلک د اقتدار په منصب قبضه ومومي، نو د همدې بل نوم اسلامي نظام دی. اسلامي نظام هغه خلک جوړوي چې د اسمانونو خدای د مځکې له سره ویني. هغه چې خپل ځان یې په خدایي طرحه کې دومره حد ته محو کړی وي چې د خپل ذات لپاره یې هېڅ طرحې پاتې نه شي. د اسلامي

نظام جوړوونکي هغه دي چې د نورو په درد باندې کړېږي، چې د نورو تکليف، خپل تکليف ګڼي. هغه چې حال يې دا وي چې د مسؤليتونو احساس يې د ژوند خوښۍ ورنه واخلي. د الله په وړاندې د ځوابدهي فکر د هغوی لپاره د اقتدار کرسۍ د ازغيو کرسۍ وګرځوي. هغه چې د دولتي منصبونو په ترلاسي اوښکې تويوي، نه چې په قَهقَهو ورته خاندي. د مځکې په سر چې کله يوه ونه ولاړه وي او په خپلو ښېرازه څانګو کې ګلان او مېوې زرغونوي، نو دا د يوې پېچلې کايناتي طرحې تکميل وي. دغه راز اسلامي نظام ګواکې په انساني ټولنه کې د خدای شرعي ګلان او مېوې لګول دي. دا يوه خورا باريکه او خورا پېچلې طرحه ده. بالکل هماغسې چې يوه ونه د اوږدې مودې له خاموش عمل نه وروسته د دې جوګه ګرځي چې په خپلې ښېرازې تنې باندې د رنګ او خوند او خوشبو هغې لذتبښونکې ټولګې ته وجود وبښي، چې ګل او مېوه بلل کېږي. ځينې سرونه چې د ونې د تخم په څېر خپل ځان د يوه ستر هدف په خاطر قرباني کړي، ځينې ارواوې چې کله د عالَم په حقايقو کې محو شي او د خدای پټې خزانې په ټولنيزه کچه خورې کړي، نو هله هغه پېښه رامنځته کېږي چې اسلامي نظام بلل کېږي. هغه چې په ژوندوني يې خپل ځان اخرت ته رسولی وي، هغوی چې کله د اخرت ابدي تجلی دنيا ته راکوزوي، نو د رڼا همدغه انعکاس اسلامي نظام وي. اسلامي نظام د اخروي نعمتونو مځکنی ظهور دی. هغه چې د خپلې جاه طلبي تماشو ته د اسلامي نظام نوم ورکوي، دا ډول خلک به د اسلامي نظام د راوستو کريډټ خو واخلي، البته دا انديښنه شته چې د خدای په نزد به د درغلۍ او فرېب مجرمان وګرځول شي ځکه دوی دا جرأت کړی چې خپل وچ ډنډر ته د خدای د ښېرازې ونې نوم ورکړي.

## د اسلام په نوم د اسلام قتل

اسلام سیاسي شعار گرځول د اسلام په نوم د اسلام وژل دي. په اوسنیو حالاتو کې هېڅ اسلامي هېواد د خپلو ټولنیزو حالاتو له مخې د دې جوگه نه دی چې د اسلامي حکومت د قیام مځکه دې وگرځي. بله دا چې هغه لیډران چې دغه ډول تحریکونه په مخ وړي، هغوی پخپله هم د اسلامي قیادت له اوصافو نه بالکل خالي دي. په داسې حالت کې د اسلامي حکومت نعره یوازې د تخریبي فعالیتونو لپاره یوه بریالۍ وسله کېدی شي، خو په هېڅ درجه کې هم رغنیزه پایله نه شي ورکولی. د دغه ډول تحریکونو بل نقصان دا دی چې د اسلام ټکی د مسلمانو واکمنو لپاره هماغسې د یوه سیاسي خطر هم معنا گرځېدلی دی، چې د مثال په ډول، د کمیونیزم ټکی د امریکایي واکمنو لپاره گرځېدلی دی. او پایله یې دا ده چې په اسلامي هېوادونو کې د اسلام په نوم اوږدمهاله کار کول ورځ په ورځ پسې پېچلی کېږي.

په اوسنۍ زمانه کې مسلمان رهبران سره له دې چې د اسلام له شعار سره راپورته شوي دي، خو هغوی چې په کومه مځکه ولاړ دي هغه د سیاسي او اقتصادي گډوډۍ مځکه ده نه په حقیقي معنا د اسلام د غوښتلو مځکه. د ازادۍ او جمهوریت او سوشیالیزم بیرغ جگوونکي چې د کومې ولسي ناکرارۍ په استفاده خپل سیاسي تحریکونه په مخ وړي، همدغه ناکراري مسلمان رهبران د اسلام په نوم کاروي. له دې نه زیات د دغه ډول تحریکونو هېڅ حقیقت نشته. همدا وجه ده چې د مفروضه غیر اسلامي حکومت له پرځولو وروسته چې د مطلوب اسلامي حکومت د جوړولو سوال راپورته کېږي نو رهبران او د دوی تر شا ولاړه گڼه گونه

دواړه په بشپړ ډول ناکام ثابتېږي. په اوسنۍ زمانه کې چې کوم مادي سیاسي تحریکونه راپورته شوو، هغوی په هر هېواد کې «ولس دښمنه» حکومتونه رانسکور کړل، خو حقیقي ولسي حکومت يې جوړ نه شو کړای. همدا انجام د اسلامي تحریکونو لپاره هم ټاکلی دی. حقیقت دا دی چې همااغه تحریک صالح دیني نظام جوړولی شي، چې د دیني انګېزو له مخې راپورته شوی وي. د سیاسي او اقتصادي ناکراري په مځکه راپورته شوي تحریکونه یوازې یوه نوي فساد ته لاره برابروي، هېڅ کله کومه صالحه پایله نه شي ورکولی. په منفي بنیادونو جوړ شوی اتحاد همېشه په انتشار پای مومي او د مخالفت سیاسي شر او شور بالاخره په بدترینه بې‌عملي.

## د ځان ښودنې په شوق کې

يو صابون دی. د هغه اعلان په ورځپاڼو کې له يوې ځانګړې منظرې سره خپرېږي. په دې منظره کې يوه نجلۍ د ابشار تر اوبو لاندې ليدل کېږي. دا منظره د کوم ارټيسټ برش نه ده پنځولې. ربښتونې منظره ده. د دې منظرې کار په ۱۹۶۹ کې پيل شو او له څو کلونو وروسته پای ته ورسېد. د دې موخې لپاره دوی يوه نجلۍ انتخاب کړه، او د ځنګل، سمندر او نورو ځايونو له ليدو وروسته بالاخره د ابشار غسل تر ټولو زيات مناسب وګڼل شو. ځکه د ابشار په رابهېدونکو اوبو کې د غسل منظره تر ټولو ډېر کشش لري. د بېلابېلو ابشارونو له کتنې وروسته د کوډايي کنال ځای د غسل لپاره وټاکل شو.

تر ټولو مشکل ټکی دا و چې دا کار يوازې په ژمي کې کېدی شوی. ځکه په همدې موسم کې په غرنيو ابشارونو کې څپې تېزې وي. بلې خواته د دې هدف لپاره د نازکې نجلۍ انتخاب ضروري و چې د غسل په وخت کې «د اوبو پرۍ» معلومه شي. دا له ژوند سره د لوبېدو طرحه وه. خو د ماډلينګ مسلک دا کار اسانه کړی و. د اعلاناتو د شرکت کارمندان چې ټول چمتوالی ور له غاړې و او انځورګري يې کوله، په ښو تودو جامو کې پټ وو. بل لوري ته د دوی د ډلې تر ټولو نازکې او کمزورې غړې به سهار ۷ بجې له يخنۍ نه کنګل اوبو ته ور ودانګل. دې بايد په ښويو کاڼو باندې تر رابهېدونکو اوبو لاندې داسې غسل کړی وای چې په څېرې يې يوازې د خوشالي او ارامي مسکا وي. د وېرې او وارخطايي هيڅ نښه يې بايد په څېره ونه ليدل شي. چينجيان او د اوبو ماران له دې ټولو ستونزو

پرته یوه بله ستونزه وه. د شرکت مسؤلینو هېڅ کله نجلۍ پخپله له خوبه نه راویښوله. دا به هر سهار پنځه بجې په خپل کور کې اماده ناسته وه.

دغه پېښه زرګونه ځله تکرار شوه او زرګونه انځورونه واخیستل شوو. او بیا هغه یو انځور ورنه انتخاب شو چې نن ورځ یې خلک د اخبار په اعلاناتو کې ګوري. د نجلۍ لپاره د یوه انځور بیه پنځلس زره روپۍ وه ـــــــ د ماډلینګ دغه ډګر نن ورځ په ټوله دنیا کې په لویه کچه دود دی.

«هغه څه دی چې نجونې او هلکان د ماډلینګ دې سخت کار ته هڅوي؟» د اعلاناتو د شرکت یوه مسؤل دې سوال ته په ځواب کې وویل:

«اساسي وجه یې د تظاهر او ځان ښودنې جذبه ده.»

ځکه له دې وروسته هرې خوا ته دوی په اخبارونو او مجلو کې خپل انځورونه ویني ـــــــ د ځان ښودنې دغه جذبه چې یو «مسلکي موډل» ژوندګوابنه کارونو ته هڅوي، هماغه د یوه «رهبر» د کارونو انګېزه هم وي. سره له دې چې د لومړۍ ډلې ننداره، مسلکي نمایش ګڼل کېږي او د دوهمې ډلې همدغه ډول نندارې، د قربانۍ او سرښندنې په ویاړلو نومونو یادېږي. د انسان حقیقي کمال دا دی چې د ځان ښودنې له شوق نه راپورته شي. سره له دې چې په ټولو کارونو کې د انسان لپاره همدغه کار مشکل دی.

**دين څه دی؟** دين دا دی چې په بنده کې د اخرت فکر پيدا شي. له الله سره تعلق، د مرگ ياد، د دوزخ وېره، دا شيان دومره په ده سيوری وغوړوي چې هره شېبه د همدې لپاره فکر وکړي، له هر قول او عمل نه يې د همدې اظهار وشي. خو په اوسنی زمانه کې همدا شی تر ټولو ډېر پردی شوی دی. هر لوري ته د دين غوغا جوړه ده مگر د دين اصل روح هېڅ ځای هم نه ليدل کېږي. حقيقت دا دی چې د ژوند دوه ډولونه دي. يو په دنيا کې اوسېدل. بل، په اخرت کې اوسېدل. غيراسلامي ژوند دا دی چې انسان په همدې دنيا کې واوسي. خو اسلامي ژوند بيا دا دی چې بنده په اخرت کې واوسي او د خدای هغه کاينات ته سر له اوسه ورسېږي چې بلاخره هر يو ور روان دی.

---

**دين داري اصل کې** د اخرت په فضا کې ژوند کول دي. خو بالعموم خلك د دين اهميت د اخرت په کچه نه شي درك کولی. د همدې لپاره هغوی د خدای دين د دنيا سطحې ته راټيټ کړی وي ______ د دين له لارې په مال او اولاد کې برکت ترلاسه کول، دين د اقتصادي او سياسي نظام په بڼه ليدل، دين د ټولنيزې اصلاح د طرحې په حيث وړاندې کول، دين د سيکولريزم او سوشياليزم په اصطلاحاتو کې بيانول، او داسې نور د دې خبرې ثبوت دي چې بنده د دين اهميت د اخرت په کچه ونه شو موندی او دين يې د هغې دنيا سطحې ته راټيټ کړی دی چېرته چې دی اوس ژوند کوي.

---

**يو شخص چې په دنيا کې** خواري وکړي او عزت، دولت، مقام او ملگري او ملاتړي پيدا کړي، نو خلك ورته سترگه کوي او لحاظ يې ساتي. ځکه خلك چې د دنيا کوم معبود ته قايل دي، دې شخص هغه معبود په خپلو اوږو بار کړی وي. خو هغه شخص چې د اخرت فکر

وکړي او د دې فکر له امله د دنیا ساز و سامان په ځان راټول نه شي کړای، نو د خلکو په سترګو کې حقیر ګرځي، ځکه خلک چې له کوم معبود سره اشنا وي، هغه معبود دوی ته د هغه شخص په شاوخوا کې په نظر نه ورځي. خو د قیامت انفجار چې کله دروغجن معبودان له منځه یوسي، نو ناڅاپي به خلک پوه شي چې هغه اخرت‌پاله شخص چې دوی بې قیمته ګڼلی و، هماغه تر ټولو ډېر باقیمته انسان دی. ځکه د هغه تر شا هغه خدای ولاړ و چې د ځمکې او اسمانونو د ټولو خزانو څښتن دی، او په دروغجنو معبودانو باندې بروسه کوونکي به هغه ورځ په دې حال کې وي چې ان د دېوال سایه به هم د دوی لپاره نه وي چې پناه ور وړي.

**د حقیقت اواز** د بنده د غوږونو له پردو سره لګېږي. زړه یې د هغه د رښتینولۍ اقرار کوي. خو د خپلو پېژندګلویو په منځ کې د خپل مقام د ساتلو په خاطر بنده له حقیقت نه انکاري وي. له ده هېر وي چې د ولس په نزد د خپل مقام د ساتلو په هڅه کې اصلاً د خدای په نزد خپل مقام له منځه وړي.

# حاسِبوا قبلَ ان تُحاسَبوا (حدیث)

**په دنیا کې خپل حساب وکړئ، مخکې له دې چې په آخرت کې درسره حساب وشي.**

که تاسې سره یو شخص ناسمه رویه وکړي، یو څوک تکلیف در ورسوي، نو سمدستي مو زړه ته صدمه رسېږي. تاسې هغه ته د ذلیل او حقیر په سترګه ګورئ. ستاسې په سترګو کې له هغه نه بد انسان بل نه وي.

مؤمن هغه دی چې همدغه شدید احساس د خپلو تېروتنو په باره کې په کې پیدا شي. ده نه چې یوه تېروتنه وشي، نو سمدستي پوه شي چې تېروتنه ورنه شوه. د خپلو تېروتنو د پېژندو لپاره همدومره حساس شي څومره چې د نورو خلکو د تېروتنو لپاره حساس وي. د تېروتنې له پېښېدو سره سمدستي متوجه شي چې له مانه یو داسې کار وشو چې ما له خدای نه لرې کوي، او په اخرت کې مې بې قیمته کوي. د ده دا احساس دومره شدید وي چې خپل ځان په خپلو سترګو کې حقیر وګوري. د خپل احتساب لپاره دی دومره ډېر بې رحمه وي چې یو شخص د خپل دښمن د احتساب لپاره بې رحمه وي.

همدا خلک د الله دوستان دي. همدا هغه خلک دي چې ځانونه یې د الله په لاس پلورلي دي تر څو د الله په نزد جنت ومومي. هغه خلک چې په دنیا کې د دغه ډول متقیانه ژوند ثبوت ورکړي، همدوی هغه خلک دي چې د اخرت په دنیا کې به له جهنم نه لرې ساتل کېږي. د دوی رب به د ملاقات په ورځ دوی ته وایي، چې نن په تاسې هېڅ ملامتیا نشته. د دوی لپاره به د جنت ټولې دروازې وازې شي او د خدای له لوري بلونکي به غږ کړي: په ابدي باغونو کې جوړې شوي دا جنتي محلونه تاسې ته په وراثت کې رسېدلې دي. له هرې دروازې چې غواړئ، ورننوځئ. له نن نه وروسته نه ستاسې لپاره غم شته او نه تکلیف.

## عمل هماغه دی چې د دنیوي ګټې او شهرت غوښتنه په کې نه وي

ابو داؤد او نسائی له ابو امامه رضي الله عنه نه یو روایت په دې ټکو کې راوړی دی:

**قال جاء رجل الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال ارأیت رجلا غزا یلتمس الاجر والذکر ما له فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا شیئ له فاعادها ثلاث مرات. یقول رسول الله صلی الله علیه وسلم لا شئ له. ثم قال ان الله لا یقبل من العمل الا ما کان خالصا وابتغی به وجهه.**

ژباړه: یو شخص رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل، یو شخص جهاد کوي او له دې لارې دنیوي ګټه او شهرت غواړي. د دغه ډول شخص لپاره څه دي؟ رسول الله وفرمایل، هغه لره هېڅ هم نشته. همدا سوال یې درې ځلې وکړ او هر ځل رسول الله همدا وفرمایل چې هغه لره هېڅ هم نشته. بیا یې وفرمایل: الله یوازې هغه عمل قبلوي چې خاص د هغه لپاره او د هغه د رضا لپاره شوی وي.

## د هیلې او وېرې په منځ کې

ابو نعیم راوړي دي چې عمر رضي الله عنه وفرمایل:

**لو نادی مناد من السماء یا ایها الناس انکم داخلون الجنة کلکم الا رجلا واحدا لخفت ان اکون انا هو. و لو نادی مناد ایها الناس انکم داخلون النار الا رجلا واحدا لرجوت ان اکون انا هو.**

**(حلیة الاولیاء جلد اول)**

ژباړه: که له اسمان نه یو څوک غږ وکړي چې اې خلکو! تاسې ټول به جنت ته داخلیږئ، پرته له یو کس نه، نو زه وېرېږم چې هغه یو شخص به

زه یم. او که څوک غږ وکړي چې اې خلکو! تاسې ټول به جهنم ته ځئ، پرته له یوه کس نه، نو هیله مې ده چې هغه یو شخص به زه یم.

## خلک بښل هم صدقه ده

ابو عبس بن حبر رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ خلک وهڅول چې د جهاد في سبيل الله لپاره صدقه ورکړي. خلکو د خپل وس مطابق صدقات راوړل. په صحابوو کې یو تن علبة بن زيد بن حارث انصاري رض و. هغه سره هېڅ هم نه ول. هغه د شپې پاڅېد. لمونځ یې وکړ او الله تعالی ته یې په ژړا وویل:

**اللهم انه ليس عندى ما اتصدق به. اللهم انى اتصدق بعرضى على من ناله من خلقک.**

ژباړه: خدایه! له ماسره هېڅ داسې څه نشته چې صدقه یې کړم. خدایه! که ستا په بندګانو کې چا زما عزت کړی وي، نو زه هغه عزت صدقه کوم (ببښم یې).

سهار چې خلک راټول شوو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **این المتصدق هذه اللیلة** (د نن شپې صدقه کوونکی چېرته دی؟) خو هېڅ څوک هم پورته نه شول. رسول الله بیا همدا سوال وکړ، بیا هم څوک پورته نه شول. له دریم ځل سوال وروسته علبه بن زید رض پورته شو. رسول الله ص وفرمایل:

**ابشر، فوالذى نفسى بيده لقد كتبت فى الزكاة المتقبلة (البداية و النهايه جلد ۵)**

ژباړه: زېری مې درباندې! قسم په هغه ذات چې زما ځان یې په واک کې دی، ستا عمل په قبوله شوې صدقه کې ولیکل شو.

## الله ته هغه بنده خوښ دی چې ځان له فتنو لرې وساتي

عمر بن سعد رض د خپل پلار له خولې راوړي دي، چې د مسلمانانو د خپلمنځي جګړو په زمانه کې د ده زوی عامر ده ته وویل: اې زما پلاره! خلک جنګ کوي او تاسې په کور ناست یاستئ. هغه وویل: اې زما زویه! آیا ته ماته دا وایې چې د فتنې سردار شم. په خدای قسم زه به داسې ونه کړم. تر څو چې داسې توره پیدا نه کړم چې په مسلمان باندې که وار پرې کوم نو خطا شي او که په کافر وار کوم، نو سر ورباندې وشیندم. ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي دي: په الله باندې هغه شخص ګران دی چې بې نیازه وي، پټ وي او له الله نه وېرېدونکی وي (ان الله یحب الغنی الخفی التقی، البدایة و النهایه جلد ۷ صفحه ۲۸۲)

## بنده د ځان په باره کې په غلطفهمي کې مبتلا شي

بزار له انس رضي الله عنه نه روایت کړی دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم مقداد بن اسود رض یو ځای ته د عامل په توګه واستوه. څو ورځې وروسته چې هغه بېرته راغی، نو رسول الله وپوښتل: خپل کار دې څنګه وموند؟ مقداد رضي الله عنه وویل: **کنت احمل و اوضع حتی رأیت بان لی علی القوم فضلا** (خلکو اوچتولم او درنولم یې، تر دې چې داسې مې وانګېرله چې زه په خلکو باندې فضیلت لرم) رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: امارت خو همداسې شی دی. اوس اختیار ستا دی چې غواړې یې او یا یې پرېږدې. مقداد رضي الله عنه وویل: په هغه ذات مې دې قسم وي چې تاسې یې په حق را استولي یاستئ، نور به زه په دوو تنو هم امیر نه شم.

## د خدای له وېرې خالي زړه په خدایي کیفیاتو نه شي پوهېدی

د تبوک غزوه په ډېرو سختو حالاتو کې پېښه شوه. عبدالله بن عباس رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته وویل چې د الله په لاره کې انفاق وکړئ. خلکو د خپلې وسې مطابق ورکړه پیل کړه. په صدقه ورکوونکو کې تر ټولو لویه برخه د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه وه. هغه دوه سوه اوقیې راوړي وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورنه وپوښتل: **هل ترکت لاهلک شیئا** (خپلو بچو ته دې څه پرې ایښي دي؟) هغه وویل هو. رسول الله وپوښتل، څه دې پرېښودل؟ عبدالرحمن بن عوف رض ځواب ورکړ: **ما وعدالله و رسوله من الرزق والخير** (هغه رزق او خير چې الله او د هغه رسول یې ژمنه کړې ده.) ابو عقیل انصاري رضي الله عنه یوه صاع کجورې راوړې. هغه وویل: ما ټوله شپه د یوه یهودي په کور کې اوبه کش کړې، او دوه صاع کجورې مې پیدا کړې. یوه صاع (درې نیم کیلو) مې خپلې کورنۍ ته پرېښودې او یوه صاع مې دلته راوړې: **والله ما کان عندی شیئ غیره و هو یعتذر و هو یستحیی؛** (هغه عذر کاوه او حیا ورته درېدله چې له دې پرته هېڅ هم ورسره نشته.) بل لوري ته د مدینې د منافقینو حال دا و چې کله به مسلمان ډېره صدقه راوړه، نو ویل به یې چې ریاکار (مرائ) دی او د دوهمې ډلې په باره کې به یې ویل: **هذاافقر الی صاعه من غیره** (دا سړی خو پخپله دې صاع ته ډېر محتاج دی.) کنز العمال

## د یوه ګمنام سړي اجر کله له لویو خلکو ډېر وي

ابن عساکر له ارطاة بن منذر نه راوړي دي چې عمر رضي الله عنه یوه ورځ شاوخوا ناستو کسانو ته وویل: **ای الناس اعظم اجرا** (په خلکو کې د چا اجر ډېر دی؟) چا د روژه‌تي او لمونځ کوونکي یادونه وکړه. چا وویل چې د

امیر المؤمنین اجر ډېر دی. چا د یوه بل چا یادونه وکړه. عمر رضي الله عنه وفرمایل: آیا زه یې درته وښیم چې کوم خلک چې تاسې یاد کړل، له هغو نه او امیرالمؤمنین نه هم ډېر اجر د چا دی؟ خلکو وویل: هو. ویې فرمایل:

**رو یجل بالشام آخذ بلجام فرسه یکلأمن وراء بیضة المسلمین، لا یدری اسبع لفترسه ام هامة تلدغه او عدو یغشاه، فذلک اعظم اجرا ممن ذکرتم و من امیر المؤمنین.** (کنزل العمال جلد ۲)

ژباړه: هغه معمولي سړی چې په شام (د جهاد سیمه) کې یې د خپل اس واګې نیولې او د مسلمانانو د لښکر ساتنه کوي. دی هېڅ خبر نه دی چې کوم داړونکی به یې وداړي یا به یې کومه خزنده وچیچي یا به دښمن ورباندې چاپه واچوي. د دې سړي اجر له هغو خلکو نه ډېر دی چې تاسې یاد کړل او له امیرالمؤمنین نه هم.

## ریا نه د ځان ساتنې ځواب

طبري د حضرت عروه په حواله راوړي دي. هغه وایي، چې عمر رضي الله عنه، ایله (فلسطین) ته راغی او د مهاجرینو او انصارو یوه ډله هم ورسره وه. ده اسقف ته خپله چپنه ورکړه چې د کلک ټوکر له پیوندونو سازه وه. د اوږد سفر د سورلۍ له امله یې چپنه له شا نه څیري وه. عمر رض اسقف ته خپله چپنه ورکړه چې ویې مینځي او پیوند ورباندې ولګوي. اسقف کمیس ځان سره یووړ. سم یې کړ او په خوا کې یې یوه بله د نري رخت چپنه هم ورته راوګنډله. عمر رضي الله عنه د چپنې په لیدو وپوښتل، دا څه دي؟ اسقف وویل: دا خو ستاسې کمیس دی، درته ومې مینځه او پیوندونه مې ور ولګول. دا بله زما له لوري تاسې ته ډالۍ ده. عمر رضي

الله عنه چپنې ته وکتل، لاس يې وربانديې وواهه. بيا يې خپله چپنه واغوسته او هغه بله چپنه يې بېرته اسقف ته ورکړه، بيا يې وفرمايل:

**هذاانشفهماللعرق** (تاريخ طبری جلد ۴)

ژباړه: په دې دواړو کې دا زما چپنه ښه خوله جذبوي.

## په هر څه سربېره، په دنيا کې قيمت نه غوښتل

عبدالرحمن بن زيد بن اسلم رضي الله عنه وايي. د مکې مسلمانانو چې مدينې ته هجرت وکړ، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم انصارو ته وويل: دا مهاجرين ستاسې ورونه دي. خپل مال او اولاد يې پرې ايښي او تاسې ته راغلي دي. انصارو وويل: موږ سره د کجورو باغونه دي. په هغو کې نيمې د مهاجرينو، نيمې زموږ. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: له دې نه علاوه خو هم کېدی شي. انصارو وويل، اې د خدای رسوله! هغه څنگه؟ رسول الله وفرمايل: د مکې دا خلک په کرنه او باغواني نه پوهېږي. د دوی د برخې کار تاسې وکړئ او پيداوار ورسره تقسيم کړئ. انصارو وويل: **سمعنا و اطعنا** (ستاسې خبره مو واورېده او ومو منله) جابر رضي الله عنه وايي چې انصارو به چې د فصل اخيستو په وخت کې کجورې راټولولې، نو هر انصاري به کجورې دوه برخې کړې. يوه حصه به کمه وه او بله ډېره. له کمې برخې سره به يې د کجورو څانگې کېښودې. بيا به يې لويه برخه مهاجرينو ته ورکړه او وړه ډېری به يې ځان ته وگرځوله. دا سلسله د خيبر تر فتحې پورې روانه وه. (کنز العمال جلد ۷) امام بخاري له انس رضي الله عنه نه روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم انصار راوغوښتل او هغوی ته يې د بحرين مځکې

ورکړې. هغوی وویل، نه، تر څو چې مهاجرو ورونو ته هم همدومره مځکه ورنه کړای شي. رسول الله وفرمایل:

**اما لا فاصبروا حتی تلقوني فانه سیصیبکم اثرة.**

ژباړه: داسې امکان نه لري، نو تاسې صبر وکړئ تر دې چې اخرت کې ماسره یو ځای شئ. ځکه له ما وروسته به (په حکومتي منصبونو کې) په تاسې نورو ته ترجیح ورکول کېږي.

## خدای په لوړه بلل ضرور نه دي

ابو موسی اشعري رضي الله عنه وایي، رسول الله صلی الله علیه وسلم د خیبر د غزوې لپاره روان شو. خلک چې یوې درې ته نیږدې شول، نو په لوړ اواز یې تکبیر وویل: **الله اکبر، لا اله الا الله.** رسول الله فرمایل: **اربعوا علی انفسکم انکم لا تدعون اصم ولا غائبا انکم تدعون سمیعا قریبا وهو معکم.**

ژباړه: اې خلکو! ځان سره نرمي وکړئ. تاسې کوم کوڼ او غایب ذات نه رابولئ. یو داسې ذات بولئ چې اورېدونکی دی، نیږدې دی او تاسې سره دی.

## د اخرت له حساب نه وېره

ابن ابي شیبه او بیهقي د ضحاک په حواله راوړي دي چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه په ونه کې یوه مرغۍ ولیده. ویې فرمایل: اې مرغۍ! ته څومره خوش نصیبه یې. کاش زه هم ستا په څېر وای. ته په ونه ناسته یې، مېوه یې وخورې، بیا والوځې. نه په تا څه حساب شته او نه عذاب. په خدای قسم، ډېر زیات مې زړه غواړي چې زه د لارې په غاړه کې یوه ونه وای. په خوا کې مې یو اوښ تېرېدی، زه یې ورنیولی او په

خپل خوله کې يې اچولی، زه يې ژوولی، له ستوني يې تېرولی او بيا يې د پچو غونډې دباندې ويستلی.

## خپل عمل بې قیمته ليدل

ابن عساکر له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت کړی دی، هغه وايي چې عمر رضي الله عنه له ابو موسی اشعري سره وليدل. هغه وفرمايل: اې ابو موسی! آيا ستا دا خوښېږي چې تا کوم اعمال له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره کړي دي، هماغه دې ستا لپاره وي، او له خپل عمل نه سر په سر خلاص شې، خير له شر او شر له خير سره برابر شي، نه دې تا لره څه ثواب وي نه عذاب، ابو موسی اشعري وويل: نه، اې اميرالمؤمنينه! په خدای قسم زه بصرې ته راغلم او په هغوی کې ظلم کول عام و. بيا مې هغوی ته د قرآن او سنت تعليم ورکړ. هغوی سره مې د الله په لاره کې غزا وکړه: **واني لارجوا بذلک فضله**(زه په دې اعمالو له الله نه د فضل هيله لرم.) عمر رضي الله عنه وفرمايل:

**لکن وددت ان خرجت من عملي خيره بشره و شره بخيره کفافا لا علی و لا لی و خلص لی عملی مع رسول الله صلی الله عليه و سلم المخلص.**

ژباړه: خو زما دا خوښېږي چې زه له خپل عمل نه داسې ووځم چې خير مې له شر او شر مې له خير سره برابر وي. نه په ما کومه ګناه وي او نه ثواب. زما لپاره هماغه عمل پاتې شي چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره مې کړی دی.

## د زحمت له ګټې لګښت کول

بيهقي له حضرت حسن نه روايت کړی دی، هغه وايي چې يوه شخص عثمان رضي الله عنه ته وويل: اې شتمنو! تاسې په ښېګڼو کې له خلکو

وړاندې شوئ. تاسې صدقې کوئ، حجونه کوئ، انفاق کوئ. عثمان رضي الله عنه وويل: ایا تاسې په موږ رشک کوئ؟ سړي وويل، هوکې. هغه ورته وفرمايل: **فوالله لدرهم ينفقه احد من جهد خير من عشرة آلاف غيض من فيض (شعب الايمان)**

ژباړه: په خدای قسم! هغه يو درهم چې بنده يې د خپل زحمت له ګټې نه لګوي، له هغو لس زره درهمو نه غوره دی چې له لوی انبار نه لګول شوي وي.

## په خپلو ماتحتو ځان ته ترجيح نه ورکول

ابن عساکر له ابو موسی رضي الله نه روايت کړی دی، ابو عبيده بن جراح رضي الله عنه له يوه لښکر سره په شام کې و. دې سيمه کې وبا خوره شوه. عمر فاروق رضي الله عنه چې خبر شو نو ابو عبيده رض ته يې خط واستوه چې تاته مې اړتيا پېښه شوې ده او بې له تا مې چاره نشته. زما دا خط که د شپې در ورسېږي، نو قسم درکوم چې له سهار کېدو مخکې سپور شه او زما په لوري حرکت راوکړه. او که زما خط د ورځې در ورسېږي، نو له شپې نه مخکې سپور شه او زما په لوري حرکت راوکړه. ابوعبيده رض چې خط ولوست، نو ويې ويل چې د اميرالمؤمنين په هغه اړتيا پوه شوم چې ده ته ور پېښه شوې ده:

**انه يريد ان يستبقى من ليس بباق.**

ژباړه: اميرالمؤمنين غواړي چې هغه څوک ژوندی پاتې کړي چې پاتېدونکی نه دی.

هغه په ځواب کې عمر فاروق رضي الله عنه ته وليکل چې زه د مسلمانانو د لښکر امير يم. زه په هغوی باندې ځان ته ترجيح نه شم

ورکولی. زه ستاسې په هغه اړتیا پوه شوم چې تاسې ته درپېښه شوې ده. تاسې غواړئ هغه شخص ژوندی وساتئ چې پاتېدونکی نه دی. کله چې زما خط تر تاسې ورسېږي، نو په خپله اراده مې وبښئ او ماته د همدلته پاتې کېدو اجازه راکړئ. حضرت عمر رض چې خط ولوست، په ژړا شو او له دواړو سترګو یې اوښکې روانې شوې. کوم خلک یې چې شاوخوا ناست وو، هغوی وپوښتل: اې امیرالمؤمنینه! ابوعبیده رض رانه رخصت شو؟ هغه وفرمایل: نه، خو ګواکې چې رخصت شو.

## کاش یو خلی وای

ابن ابي شیبة، ابن عساکر وغیره له عامر بن ربیعه نه روایت کړی دی، هغه وویل چې عمر رضي الله عنه له مځکې نه یو خلی ورپورته کړ، په لاس کې یې ونیوه او ویې فرمایل:

**یالیتنی کنت هذا التبنة، لیتنی لم اخلق، لیتنی لم اکن شیئا، لیت امی لم تلدنی لیتنی کنت نسیا منسیا.**

ژباړه: دریغه، دریغه! زه دا خلی وای، دریغه هېڅ نه وای پیدا کړای شوی، دریغه، هېڅ هم نه وای، کاش! مور مې نه وای زېږولی. کاش! هېر تېر وای.

## حسد او کبر د حقیقت په اعتراف کې خنډ ګرځي

د احزاب له غزوې نه مخکې د مدینې ځینې یهود مدینې ته راغلل. هغوی د مکې وګړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خلاف جګړې ته ولمسول او ویې ویل چې تاسې په مدینه برید وکړئ، موږ به مو هم ملګرتیا وکړو. په دې ډله کې حی بن اخطب او کعب بن اشرف وغیره هم وو. د مکې سردارانو د یهودو علماوو ته وویل چې موږ د بیت الله متولیان

يو، د حاجيانو خدمتونه كوو او كعبه اباده ساتو، تاسې راته ووايئ چې زموږ دين بهتر دی يا د محمد دين (**افديننا خير ام دين محمد؟**) يهودي علماوو ځواب ورکړ: ستاسې دين د هغه له دين نه غوره دی او تاسې ډېر په حق ياستئ. **وانتم اولى بالحق منه (تهذيب سيرة ابن هشام جزء اول صفحه ١٩٦)**

## په انصاف کې لوی او واړه برابر دي

ابن عبدالحکم له انس رضي الله عنه نه راوړې ده. هغه وايي چې يو مصری، عمر بن خطاب رضي الله عنه ته راغی. ويې ويل: اې اميرالمؤمنينه! ما له ظلم نه تاسې ته پناه راوړې ده. عمر رض وفرمايل: ما پناه درکړه. مصري وويل: د مصر د والي زوی محمد بن عمرو بن العاص له ماسره د منډې سيالی وکړه او زه ورنه مخکې ووتم. هغه خوابدی شو او په ما يې د درو وارونه وکړل او دا يې ويل: **خذها وانا ابن الاكرمين** (دا واخله او زه د درنو خلکو له اولادې نه يم.) د دې خبرې په اورېدو عمر رضي الله عنه عمرو بن عاص رض ته وليکل چې له خپل زوی سره دې سمدستي مديني ته ځان راورسوي. هغوی چې راغلل، عمر رض مصری راوغوښت او هغه ته يې دره ورکړه او ورته ويې ويل، وهه يې. مصري د عمرو بن عاص رض د زوی په وهلو بنا وکړه. عمر رضي الله عنه همدا ورسره ويل: **اضرب ابن الاكرمين** (وهه دا د درنو خلکو بچی.) هغه چې کله ښه وواهه، نو ويې وفرمايل چې اوس عمرو بن العاص ووهه، ځکه زوی يې د خپل پلار په سر ته وهلی يې (**فوالله ماضرک ابنه الا بفضل سلطانه**) مصري وويل: زه چې چا وهلی وم، هغه مې وواهه. د بل چا وهلو ته حاجت نه لرم. عمر رضي الله عنه وفرمايل: که تا وهلی وای، نو موږ به دې مخې ته نه وو درېدلي مگر دا چې ته يې پخپله پرېږدې. بيا يې

عمرو بن العاص رض ته وفرمايل: تا له كله نه خلك غلامان كړي، حال دا چې خپلو ميندو يې ازاد زېږولي دي؛ **ياعمرو متى تعبدتم الناس وقد ولدتهم امهاتهم احرارا.**

## د امير مسؤليت دا هم دی چې د خپلو ماتحتو کار وڅاري

**اخرج البيهقي و ابن عساكر عن طاؤس ان عمر رضي الله عنه قال: ارأيتم ان استعملت عليكم خيرا ممن اعلم ثم امرته بالعدل، اقضيت ما على. قالوا نعم. قال لا، حتى انظر في عمله اعمل بما امرته ام لا.**

ژباړه: عمر رضي الله عنه خلكو نه وپوښتل: راته ووايئ كه له تاسې نه هغه غوره كس په تاسې چارواكى وټاكم چې زه يې غوره وينم او د انصاف كولو امر ورته وكړم، نو آيا غاړه مې خلاصه شوه؟ خلكو وويل: هو. حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل: نه، تر هغو چې زه يې كارونه ونه څارم او دا هم ونه گورم چې ده هغه كار كړى هم دى يا نه چې ما يې ورته امر كړى و.

له حضرت ابراهيم نه روايت دى چې عمر فاروق رضي الله عنه به چې كله يو څوك عامل وگماره او د هغه له خوا به كوم وفد راغى نو له هغه نه به يې پوښتنه كوله چې ستاسې امير څنگه دى؟ د غلامانو عيادت كوي يا نه؟ په جنازې پسې ځي يا نه؟ څوك يې چې در ته ورځي، له هغو سره يې رويه څه ډول ده؟ نرمه ده يا نه؟ كه خلكو به وويل، چې دروازه يې نرمه ده او په غلامانو خيال ساتي، نو هېڅ به يې نه ويل، كه نه وي د امارت د بېرته اخيستو لپاره به يې سمدستي سړى ور روان كړ. (كنزالعمال)

## په فيصله کې پلو نيول نشته

ابن عساکر له علي بن ربيعه نه روايت کړی دی. هغه وايي چې جعده بن هبيره حضرت علي رضي الله عنه ته راغی او ويې ويل: اې اميرالمؤمنينه! دوه تنه ستا خواته راځي. په هغو کې د يوه حال دا دی چې تاسې ورته له خپله ځان هم ډېر ګران ياستئ. د دوهم حال دا دی چې که يې وس ورسېږي، نو سر به درنه وشيندي او تاسې داسې پرېکړه کوئ چې د لومړي خلاف او د دوهم په ګټه وي. علي رضی الله عنه جعده په سينه وواهه او ويې فرمايل: دا پرېکړه که زما شی وای، نو همداسې به مې کړي و. خو هغه يوازې د الله شی دی. **ان هذا شيئ لو کان لي فعلت. ولکن انما ذا شيئ لله** (**کنز العمال جلد ۳**)

## ترټولو زيات قرآن کريم سره بوختېدل

بيهقي له عاصم بن ابو نجود نه روايت کړی دی چې عمر بن خطاب رضي الله عنه به چې کله خپل واليان استول، نو له هغوی نه به يې قول اخيسته چې په ترکي اسونو به نه سپرېږئ، د مېدې مړی به نه خورئ، نری رخت به نه اغوندئ، خپلې دروازې به په اړمنو نه بندوئ، که مو له دې نه کوم کار وکړ، نو د سزا مستحق ياستئ. په دې قول به يې هغوی رخصت کړل. او چې کله به يې کوم والي معزول کاوه، نو ويل به يې: ما ته د مسلمانانو په وينه نه وې مسلط کړی، نه مې د هغوی د پوستکي اړولو او د هغوی ناموس اخيستلو ته ګمارلی وې او نه مې د هغوی د مال تروړلو لپاره. ما ته د دې لپاره استولی وې چې په هغوی کې لمونځ ترسره کړې، د هغوی ترمنځ د غنيمت مالونه تقسيم کړې، د هغوی په منځ کې د انصاف پرېکړې وکړې. طبري (**جلد ۵ صفحه ۱۹**) له ابو حصين نه هم دا روايت رانقل کړی دی او دا ټکي په کې زيات دي: په قرآن کې تر ټولو ډېر مشغول شه او له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه په روايت کې

کمی وکړه او زه ستا شریک یم. **جردوا القران و اقلو الروایة عن محمد صلی الله علیه وسلم و انا شریککم.**

## په غلط انداز د شوې خبرې اثر نه وړل

انس بن مالک رضي الله عنه وایي، زه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره روان وم. رسول الله د غټو غاړو نجراني څادر له ځانه تاو کړی و. په لاره کې یو کوچی په مخه ورغی. هغه د رسول الله څادر ونیوه او په ډېر زور یې ورنه کش کړ. ما ولیدل چې په ډېر زور سره د کشولو له امله د رسول الله په اوږه د څادر نښان پرېووت. بیا یې وویل: **یا محمد مُر لي من مال الله الذي عندک** (اې محمده! د الله هغه مال چې له تاسره دی، له هغه نه یې ماته هم راکړه.) رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې گستاخي هیڅ اغېز وانه‌خیست. کوچي ته یې په مسکا وکتل او امر یې وکړ چې د اړتیا مطابق دې ورته له بیت المال نه ورکول شي. (متفق علیه)

★★★

★★

★

## د الرساله پایله

د ماښام له لمانځه وروسته له جوماته راووتم، په زينو کې يوه شخص د خپلو بوټانو تسمې تړلې. ده همدا اوس لمونځ کړی و او له جومات نه راوتلی و. نوموړی ډېر بوخت کاروباري دی او له کلونو نه په جومات کې نه و ليدل شوی. ما د حيرانتيا او خوښۍ له ګډو احساساتو سره ده ته کتل، ده وويل: «دا د الرساله پايله ده.» بيا يې زياته کړه چې موده وشوه چې يوه کس د الرساله څو ګڼې راکړې وې. خو ما بې مطالعې په الماری کې ايښې وې. بيا داسې وشول چې زه ناروغ شوم. يوه ورځ چې په بستره کې پروت وم، د وخت تېرولو لپاره مې د الرساله ګڼې راوايستې او مطالعه مې کړې، يو څو مخې مې کتلي وو چې د الرساله کشش له ځان سره واخيستم. بيا مې يې ټولې ګڼې ولوستې. اوس زه هره مياشت الرساله اخلم. الرساله مې اوس د ژوند يو جزء ګرځېدلی دی. او د همدې دا کرشمه ده چې زما په څېر ازاد خياله انسان اوس پنځه وخته جومات ته راځي.

★

## رښتینې دینداري څه ده؟

**وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ. الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَالصَّابِرِينَ عَلَىٰ مَا أَصَابَهُمْ وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ. وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُم مِّن شَعَائِرِ اللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا صَوَافَّ فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ كَذَٰلِكَ سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ. لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ.** (حج ۳۴-۳۷)

ژباړه: او د هر امت دپاره موږ یوه قرباني (یا د عبادت یوه طریقه) ټاکلې ده تر څو په هغو څارویو باندې د الله نوم واخلي چې ور په برخه کړي یې دي، نو ستاسو خدای هماغه یو خدای دی، نو هماغه ته غاړه کېږدئ او عاجزي کوونکو ته زېری ورکړه. هغوی چې کله د الله نوم ورته یاد شي، زړونه یې ولړزېږي او هغوی چې صبر کوونکي دي په هغو (کړاوونو) چې ورته رسېدلي وي او چې لمونځ ترسره کوونکي دي او له هغه څه نه چې موږ ور روزي کړي، لګښت کوي. او (د قربانۍ) اوښان مو ستاسو دپاره د الله (د دین) له نښانو څخه ګرځولي تاسو ته په هغو کې ښېګنه ده، نو په داسې حال کې د الله نومورباندې واخلئ چې هغه ولاړ وي، بیا چې کله یې اړخونه (په مځکه) پرېوتل نو تاسو هم ترې وخورئ او په (هر) صبرناك او بې صبره (فقیر) یې هم وخورئ، همدغه شان مو هغه (څاروي) درته تابع کړي دي تر څو تاسو شکر وباسئ. الله ته یې نه غوښې رسېږي او نه وینې، هغه ته خو (یوازې) ستاسو تقوا رسېږي، همداسې یې درته تابع کړي، تر څو په هماغه شان د هغه (الله) درناوی وکړئ چې درښوولي یې دي او نېك عملو ته زېری ورکړه.

يو شخص دی، هغه په بيه يو څاروی راونيو او د قرباني په ورځ يې د منتر په څېر ځينې کلمې په ژبه تېرې کړې او څاروی يې حلال کړ. د غوښې څه برخه يې پخپله وخوړه، څه يې نورو ته ورکړه. د خريداري له وخت نه د غوښې تر خوراك پورې چې د قرباني په نوم د ده سترګو کوم څه ولاړ و، هغه يوازې يو څاروی يا د څاروي غوښه او وينه وه. د ده روح له دې ور اخوا هېڅ شی هم تجربه نه کړل.

بل شخص هغه دی چې د سرښندنې په جذبه يې يو څاروی راونيو. کله يې چې د مذبح په لوري روان کړ، نو زړه يې ويل: «خدايه! زه څاروی نه بلکې خپل ځان ستا لوري ته دروړم.» کله يې چې څاروی په ټاکلې طريقه حلال کړ، نو په ژبه يې راغلل: «خدايه! دا زما د خپل ځان فديه ده چې د څاروي په بڼه يې درته پېش کوم. ته يې له مانه قبوله کړه.» د څاروي د قرباني په شېبه کې ده هغه قرباني ياده کړه چې د بنده له لوري خپل خالق ته وړاندې کېږي او د څاروي قرباني يې مازې ظاهري سمبول دی. د قرباني په وخت کې د ده زړه ويلي شوی و. له سترګو يې اوښکې روانې وې. قرباني په ده کې نرمي وټوکوله او هر ډول ناوړه جذبات يې ورنه وايستل. د کبر، عداوت، انتقام او ځانښودنې جذبات يې د خدای لپاره قرباني کړل ـــــــ هغه شخص چې د غوښې او وينې په سطحه کې و، هغه ګواکې خپل خدای ته صرف غوښه او وينه واستول او هغه شخص چې د قرباني په شېبه کې يې تقوا تجربه کوله هغه ګواکې خپل رب ته د قرباني تقوا واستوله. او همدا تقوا ده چې الله ته له خپلو بندګانو مطلوب ده، هغه زموږ غوښې او وينې ته ضرورت نه لري.

همدا د ټول دين معامله ده. د دين يو اړخ «غوښه او وينه» ده او بل اړخ يې «تقوا» ده. يو يې پوټکی دی او بل يې مغز دی. الله مغز ته ضرورت لري، نه پوټکي ته. هغه خلك چې د پوټکي په سطحه کې دين ومومي، هغوی داسې دين موندلی چې په دنيا کې به شايد دين تر سترګو شي، خو په اخرت کې به يې د خدای په نزد هېڅ قيمت نه وي. په اخرت کې به د هغو خلکو دين قيمت لري چې د مغز په سطحه يې دين موندلی وي.

ځيني خلك د ايمان او ذکر او تلاوت او لمانځه ډېره زياته چرچه کوي او په همدې کې يې سر نڼويستی وي. په ظاهر کې خو هغوی ديني کارونه کوي خو حال يې دا وي چې ايمان د دوی لپاره په ژبه د ځينو کلمو د تېرولو نوم وي. ذکر دا وي چې يو عددي نصاب وټاکل شي او ځينې ټاکلي الفاظ سهار او ماښام په تسپو واړول شي. د تلاوت مطلب د دوی لپاره دا وي چې د کتاب الله الفاظ، له غور او فکر پرته، مازې د مخارجو له صحت سره تکرار کړای شي. له لمانځه نه چې کوم څه دوی مومي، هغه بس دا وي چې په ټاکلي وخت ځينې معلوم اعمال د غړو او اعضاوو په مټ ادا شي. که يې حال دا وي نو ګواکې دوی د دين په نوم د «غوښې او وينې» ډالۍ خپل رب ته استولې، خپل رب ته يې تقوا نه ده استولې. او معلومه ده چې الله ته د تقوا تحفه مطلوبه ده، نه د غوښې او وينې.

دغه راز ځينې خلك د بشپړ اسلامي نظام د پلي کولو چيغې وهي. خو د دوی بشپړ اسلام دې عملاً يوازې د دې نوم وي چې خلکو ته د درو او اعدام سزاوې ورکړي. او همدغه ډول د ځينو نورو دولتي قوانينو د اجراء کولو اعلان وکړي. د دوی بشپړ اسلام دې دوی ته بس

خارجي او ظاهري شيان ورکړي. دوی ته دې د الله د قربت تجربه ورنه کړي او نه د زړه ارامتیا. نه دې دا نظام بنده له کبر او انانیت نه خالي کړي او نه د انتقام او عداوت له جذباتو نه. نه دې له اروایي غوټو نه لوړ انسان ورنه جوړ کړي او نه دې دا مزاج ورکړي چې د نورو لپاره هماغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره یې خوښوي. دوی به په نورو د شرعي سزاګانو د پلي کولو نعرې لګوي خو پخپله به لفظي تنقید هم نه برداشت کوي. په حقیقي معنا کې دې نه په دوی کې د خدای وېره سر وکړي او نه د بندګانو خیرخواهي. که داسې وي نو وبه ویل شي چې دوی د اسلامي نظام یوازې «غوښه او وینه» موندلې ده، د اسلامي نظام د «تقوا» په موندلو کې پاتې راغلي دي.

دغه راز هغه خلک چې د دین په هغو شکلونو ورځغلي چې ولسي ګڼه‌ګوڼه وربانديې راټولېږي، چې چندې او نذرانې په ترلاسه کېږي، چې وړیا رهبري په حاصلېږي، چې رسنیز شهرت په کې پیدا کېږي، چې د افتخاراتو او دندو دروازې په وازېږي، چې له امله یې یو بنده د پرتمنې غونډې معزز مېلمه ګرځي او مازې په لفظي تقریر د خدمت او کار کریډټ ترلاسه کوي، دا ډول خلک د «غوښې او وینې» په سطحه کې دینداري ترسره کوي. حال دا چې د تقوا په سطحه دینداري دا ده چې انسان خپل ځان تول کړي او د حقیقت په وړاندې سر ټیټ کړي. خدای د اعلاناتو دینداري نه غواړي، بلکې هغه دینداري غواړي چې د وینا په دریځ نه، بلکې په خاموشو ډګرونو کې ترسره کېږي. هلته چې بنده له نورو نه ډېر ځان ته ګوري او چې په خپل نفس باندې ګوزار تېروي خو د نورو حق هغوی ته سپاري.

## خوشباوري، حقیقت نه شي بدلولی!

په تمځای کې خلک ۲۱مې شمېرې موټر ته په تمه وو. په دې وخت کې یو موټر راغی او ټولو ور وځغاستل. یوه وویل، «اوه! دا خو ۱۲مه شمېره موټر دی.» بل وویل، «۱۲ په ۲۱ بدل کړئ او ور وخېژئ.»

ښکاره ده چې دا مازې یوه ټوکه وه. هېڅ شخص به داسې ونه کړي چې قلم واخلي، په موټر خپله مطلوبه شمېره ولیکي او په هغه کې کېني او دا وګڼي چې اوس ګنې د خپل هدف په لوري روان شوی دی. ځکه دا فرق د شمېر نه، د حقیقت فرق دی. او د حقیقت فرق د شمېر په فرق نه شي بدلېدی ـــــــ په خپل شخصي ژوند کې هر شخص په دې خبره پوهېږي. خو عجیبه خبره ده چې د ملت رهبران چې کله د مسایلو حل کولو ته راپورته کېږي نو هورې دغه انتهایي حقیقت ورنه هېر وي. شاید د دې لپاره چې دوی غواړي شمېره بدله کړي او د هغه کار کریډټ د ځان په نوم کړي چې یوازې د حقیقت د بدلولو په نتیجه کې ترلاسه کېږي.

یوه داسې ټولنه چې د لیاقت او استعداد په سر خلکو ته درجې په کې ورکول کېږي، موږ د مراعاتو او امتیازاتو په نوم کانفرانسونه کوو. یو داسې نظام چې د علمي او اقتصادي طاقت په زور په کې د قومونو پرېکړې کېږي، موږ د احتجاجونو او غوښتنو لوحې په دېوالونو سرېښوو. یوه داسې دنیا چې د ژبې او بیان بالکل نوی انداز یې خپل کړی دی، موږ په خپل دودیز کتابتون باندې د «نوي عصر» د لیکلو لپاره د یوه خوشنویس د خدماتو په لټه کې یو. یوه داسې زمانه چې د عالمي ذهن پرېکړه کړې ده چې سیاست په سیکولرو بنیادونو ودروي، خو موږ د خلکو د ذهنیت له بدلولو پرته په درو وهلو د اسلامي نظام د راوستو خوبونه ګورو. یو داسې

جهان چې د اختلاف او شکایت ژور مادي اسباب موجود دي، موږ د لفظي کرشمو له لارې د حالاتو د سمون طرحې جوړوو. یوه داسې ټولنه چې د تعلیم، اقتصاد، خپلمنځي اتحاد له پلوه له ټولو ملتونو نه موږ شاته پاتې یو، موږ د غونډو او کنوانسیونونو له لارې د هېواد د برخلیک د بدلولو نعرې اوچتې کړې دي. یوه داسې جغرافیه چې له موږ سره د ځان ساتنې ځواک هم نشته، موږ «دښمن ته زیان ورسوئ» په تګلاره د ځان لپاره د باعزته ژوند د ترلاسي پیشنهادونه وړاندې کوو. دغه ډول ټولې خبرې دومره بې معنا دي لکه په ۱۲مه شمېره موټر ۲۱ لیکل او د خپل هدف په لور سفر پیلول.

## د خدای رسۍ هغه وخت د سړي لاسته ورځي چې خدای ته په نیږدې کېدو کې یې د دنیا رسۍ له ګوتو ښوییدلې وي

حضرت ابراهیم علیه السلام د عراق د عراق په اُر ښار کې نړۍ ته راغی. مخالفینو چې کله په دې ښار کې استوګنه ورته ناشونې وګرځوله، نو ابراهیم علیه السلام د الله د امر له مخې د عربو صحرا ته ورسېد او په مکه کې یې بیت الله ودانه کړه چې هغه وخت یوه بې بنیادمه سیمه وه. په دې وخت کې چې د ابراهیم علیه السلام له خولې کومې دعاوې ووتې، په هغو کې یوه دا هم وه:

**رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ الصَّلاَةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ . رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ وَمَا يَخْفَى عَلَى اللّهِ مِن شَيْءٍ فَي الأَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاء . (ابراهیم۳۷-۳۸)**

ژباړه: زموږ ربه! بې شکه ما خپله ځینې اولاده په یو بې کښته ناو کې ستا د محترم کور خواته مېشته کړې ده، زموږ ربه! دا د دې دپاره چې دوی لمونځ ترسره کړي نو د خلکو زړونه د دوی په تلوسه کړې او د هر ډول مېوونه روزي ورکړې چې دوی شکر وباسي. زموږ ربه یقیناً تاته هغه هم معلوم دی چې موږ یې پټوو او هغه څه هم چې څرګندوو یې او الله نه هیڅ شی نه په ځمکه پټېدای شي او نه په اسمان کې.

د حضرت ابراهیم علیه السلام د ژوند دغه پېښه یوه سمبولیکه پېښه ده. دا د تاریخ په ژبه کې راته وایي، چې د خدای له یوه بنده سره هغه وخت څه پېښېږي چې کله د حق له سوچه دعوت سره راپورته کېږي ـــــ د وخت جوړ نظام ورسره بې ځایه کېږي، مذهبي ادارې یې له منلو

مخ اړوي، حتی د ملګرو او عزیزانو لپاره هم په هغه کې کشش نه پاتې کېږي. د دنیا بې کښته درې، له خپلې ټولې ښېرازۍ سره سره، د هغه لپاره وچې شي. دی مجبور شي چې خپله کور ودانه او بچي ورسره واخلي او د برباد اقتصاد په یوه مځکه کې مېشت شي او خپل رب ته ووايي: خدایه! بې له تا د دوی هېڅ اسره نشته. د انسانانو ابادې کړې دنیا هغوی ته له روزي ورکولو انکار کړی دی. اوس ته د هغوی تر قدمونو لاندې د روزي چینې وبهوه. دا د بشري تاریخ تر ټولو نازکه شېبه وي. دا هغه وخت وي چې د کاینات نبض درېدلی وي. د مځکې او اسمان څرخ نوي امر ته سترګې په لار وي. انساني تاریخ د نوې تجربې هینداري ته درېږي: په بیابانونو کې «چینې» راخوټېږي، د اسمان پردې څیرېږي او خزانې ورنه راورېږي. د داعي اواز د هوا په اوږو الوتنې کوي. خدای له خپلو ځواکونو سره د خپلو هغو بندګانو مرستې ته راکوزېږي چې دنیامېشتو بې حقیقته او له خپلې مرستې محروم ګرځولي دي. د سوچه دعوت کار تر اسمان لاندې تر ټولو مشکل کار دی. خو همدا هغه کار دی چې تر ټولو ډېر د خدای د مرستې راجذبوونکی دی. سره له دې چې دا مرسته هغه وخت راځي چې کله د دعوت رسونه او د هغه په پاداش کې د داعي مظلومیت، دواړه خپلې وروستۍ څوکې ته رسېدلي وي.

## په ډېر بهتر ډول...

- که بنده خپل ځان وپېژني، په ډېر بهتر ډول خدای پېژندلی شي.
- که بنده خپل ځان د مرګ په کناره ولاړ ومومي، په ډېر بهتر ډول د ژوند مقام حاصلولی شي.
- که بنده اصلاح له خپله ځانه پیل کړي، په ډېر بهتر ډول د نورو اصلاح کولی شي.
- که بنده دروغجن مقاصد خپل هدف ونه ګرځوي، په ډېر بهتر ډول لویو موخو ته رسېدی شي.
- که بنده پوه شي چې باید خوله پټه ونیسي، په ډېر بهتر ډول وینا کولی شي.
- که بنده د جګړې له میدان نه په شا شي، په ډېر بهتر ډول خپله جګړه ګټلی شي.
- که بنده د خپلې غلطي اعتراف وکړي، په ډېر بهتر ډول ځان سم ثابتولی شي.
- که بنده د خپلې ناپوهي اقرار وکړي، په ډېر بهتر ډول د خپل علم ثبوت ورکولی شي.
- که بنده د خپلو امکاناتو کارولو ته سرګرم شي، په ډېر بهتر ډول به هغه څه ومومي چې له نورو نه په غوښتو یې لاسته راوړل غواړي.
- که بنده د جهنم لمبې وګوري، په ډېر بهتر ډول د جنت باغونه لیدی شي.

## چې عقل درنه واخیستل شي

ويل کېږي، حضرت موسی علیه السلام یو ځل دعا وکړه، چې «خدایه! زما له قوم نه هر څه واخله، خو عقل ورنه مه اخله.» الله تعالی ځواب ورکړ، «اې موسی! موږ چې کله له چانه د اخیستو اراده کوو، نو همدا عقل خو یې تر ټولو ړومبی اخلو.»

د الله دا پرېکړه چې کله په کوم قوم پلي کېږي نو حال یې دا وي چې په ټولو اقداماتو یې بېعقلي خپره شي. هر وګړی یې په داسې ډول غږېږي ته وا په دې هم خبر نه دی چې انسان ته پکار ده چې کله غږېږي، نو د خیر خبره باید وکړي، که نه وي پټه خوله باید اوسي. د دې قوم ویناوال داسې ویناوې کوي ته وا هېڅ خبر نه دي چې د وینا معنا ده بامعنا کلام اورول نه په فضا کې الفاظ پاشل. د کار خلک یې داسې کار کوي ته وا هېڅ ور معلومه نه ده چې د عمل معنا ده یو ګټور کار کول، نه مازې بې ګټې اخ و ډب جوړول. رهبران یې داسې سیاستونه مخکې وړي ته وا نه پوهېږي چې سیاست د داسې هلو ځلو نوم دی چې په ټولنه کې اصلاح راوړي، نه دا چې فساد او ورانی جوړ کړي. د قلم خاوندان یې داسې لیکنې کوي او خپروي ته وا هېڅ د دې خبرې شعور ورسره نه وي چې د مطالعې وړ یو څه وړاندې کول د لیکوالي نوم دی، نه مازې څو کربنې برابرول او چاپول. د خپلو حقونو لپاره د غوښتنو داسې غورځنګونه په مخ وړي ته وا له دې حقیقت نه بالکل ناخبره دي چې د یوه شي حق د کار له لارې ترلاسه کېږي نه د خرو په څېر په چغارو ـــــــ دا ډول خلک په خپلو سترګو ګوري خو خپله مشاهده داسې بیانوي ته وا نه یې دي لیدلي. دوی په خپلو غوږونو اوري خو اورېدلې خبره داسې بیانوي ته

وا نه يې ده اورېدلې. دوی لولي خو په لوستي شي خپل غبرگون داسې ښيي ته وا نه يې دی لوستی. حتی د دوی حال د هغو ځناورو په څېر شي چې په ظاهر کې خو سترگې او غوږونه او زړه لري، مگر له هېڅ شي هم خبر نه وي. همدا هغه خلک دي چې په قرآن کريم کې يې په هکله راغلي دي:

**لَهُمْ قُلُوبٌ لاَّ يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لاَّ يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لاَّ يَسْمَعُونَ بِهَا أُوْلَـئِكَ كَالأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُوْلَـئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ. (اعراف: ۱۷۹)**

ژباړه: د هغوی زړونه شته خو فکر نه ورباندې کوي او د هغوی سترگې شته خو څه ورباندې نهويني او غوږونه يې شته خو څه پرې نه اوري، دا خلك د څارويو په شان دي، بلکې زيات بې لارې، همدوی په خپله غافلان دي.

يو قوم چې کله دې سطحې ته ورسېږي، نو هېڅ دليل، دليل نه ورته برېښي. د دليل وزن بنده د خپل عقل په مټ سنجوي او ده چې عقل له لاسه ورکړی، نو له دې نه هم محروم شوی دی. د روښانه دلايلو په مقابل کې به دی د داسې الفاظو اسره ومومي چې د ده له خپل ذهن نه دباندې به هېڅ بيه نه لري. د ده د طرحو غلطي به په تجربو بالکل ثابته شوې وي خو له بدترينې ماتې وروسته به هم دی له همدې ناقصو طرحو سره يو ځل بيا راپورته شي. په هېڅ معقوله خبره به يې سر نه خلاصېږي. ځکه د يوې خبرې په معقوليت باندې د پوهېدو لپاره عقل ته اړتيا ده. البته په غيرمعقولې خبرې به يې ښه سر خلاصېږي ځکه په دغه ډول خبرو باندې د پوهېدو لپاره له بې عقلي پرته هېڅ هم پکار نه دي.

## د اسلام په نوم غیراسلام ترسره کول

په عباسي دور کې چې په مسلمانانو کې عقلي علومو وزرې وکړې، نو یوه طبقه یې ډېره سخته مخالفه شوه. په دې زمانه کې دا خبره متل ګرځېدلې وه: **من تمنطق فقد تزندق** (چا چې منطق زده کړ، زندیق شو.) دغه راز په نولسمه پېړۍ کې چې د غرب علومو اسلامي هېوادونو ته لاره وکړه او خلکو ورسره لېوالتیا وښودله، نو د الازهر یوه شاعر وویل:

**و من یقل بالطبع او بالعلة**
**فذاک کفر عند اهل الملة**

سید جمال الدین افغاني چې په ۱۸۷۱ کې مصر ته راغی، نو د الازهر ډېرو زیاتو زده کوونکو ورته رامخه کړه. د هغه عصري انداز به په زده کوونکو ډېر زیات اغېز ښنده. د هغوی له ډلې یو تن محمد عبده هم و چې په هغه زمانه کې د ازهر طالب علم و. دی جمال الدین افغاني ته دومره نیږدې شو چې ویل کېږي چې په څه ډول به چې له افلاطون نه پرته د سقراط علم له منځه تللی وای، ځکه هغه له ځانه هېڅ کتاب نه و پرې ایښی. په همدې ډول به له محمد عبده پرته جمال الدین افغاني هم ګمنامه شوی و. ځکه ده هم خپل افکار د کتاب په بڼه مرتب نه کړل. دا کار له هغه وروسته مفتي محمد عبده وکړ.

محمد عبده چې کله په ازهر کې د زده کوونکي په حیث مېشت و او جمال الدین افغاني ته به یې تله راتله کول نو استادانو یې په ده د عقیدې د خرابي ټاپه ووهله. ان تر دې چې یوه زده کوونکي یوه ورځ کوم شیخ ته دا خبره ورسوله چې محمد عبده بې اودسه د مازدیګر په لمانځه ولاړ دی. د ده په باره کې د خلکو بدګماني دومره زیاته شوې وه چې

استاد هم په دې خبره يقين وکړ او د زده کوونکو يوه ډله يې ور واستوله چې ورشئ او دلته يې راولئ. دا خلک چې ورغلل، نو محمد عبده نيت تړلی او په لمانځه ولاړ و. دې هلکانو نوموړی د لمانځه په حالت کې ونيوه او په کشولو يې شيخ ته راوست. شيخ د هغه د تعزير امر ورکړ او هلکانو په ګډه ښه وواهه.

**جمال الدين الافغاني، از محمود ابوريّه، صفحه ٦**

## مؤمن د جنت ګل دی

ایمان دا دی چې بنده دومره بې‌انا شي چې کله یې د نورو له لوري زړه تېږي شي، نو ویې زغملی شي. د خپلې نیمګړتیا دومره ډېر احساس ورسره وي چې د نورو خلکو تنقید په ده بد ونه لګېږي، د نورو له لوري بې عزتي له پامه وغورځوي. زړه یې دومره صفا شي چې د نورو زیاتی وبښلی شي، د هغوی خبرې هېرې کړای شي، د هغوی لپاره له زړه دعا وکولی شي. د همدې کیفیت نوم د قرآن کریم په ژبه کې **قلب سلیم (شعراء ۸۹)** دی. د جنت د دنیا وګړي به هماغه خلک وي چې د قلبِ سلیم خاوندان وي. هغه چې ځان له منفي جذباتو او د عکس العمل له احساساتو نه لوړ نه شي کړای، هغوی ګواکې د «ازغیو» په سطحه کې ژوند تېروي. دا ډول خلک د «ګلونو» هم‌نشینه څنګه کېدای شي؟

★

- **د معاصر انسان تراژيدي**

سالز نيتسن د روسيې ناول ليکونکی و. د خپل تنقيدي ذهن له امله نوموړی له روسيې نه وشړل شو. په ۱۹۷۴ کې سويزرلينډ ته ورسېد او له هغه ځايه يې امريکا ته مخه کړه. اوسمهال نوموړی د امريکا په شمال ختيځه سيمه کې استوګنه لري.

په جون ۱۹۷۸ کې سالزنيتسن په هارورډ پوهنتون کې يو ليکچر ورکړ. د وينا خلاصه يې دا وه چې د روسي انسان مسئله دا ده چې په يو ډول روحاني اختناق (Suffocation of Spiritual Life) مبتلا دی.

- **د موسيقي اذيت**

د يوه کتاب نوم دی: «د معاصرې موسيقۍ اذيت»

**Henry Pleasants,**

**The Agony of Modern Music**

په دې کتاب کې ښودل شوي دي چې د عمومي تصور بالعکس، موسيقي د انسان لپاره له اروايي او بيولوژيکي پلوه اذيت‌ښونکې ډېره ده او خوښي ښونکې کمه.

- **۲۹مه ورځ**

د لسټر براؤن يو کتاب په دې نوم دی:

**The Twenty Ninth Day**

د کتاب دغه نوم له يوه فرانسوي چيستان نه اخيستل شوی دی. يو حوض دی چې د سوسن ونې په کې دي. په لومړۍ ورځ په دې ونو کې مازې يوه پاڼه ده. په دوهمه ورځ، دوه شي. په دريمه ورځ څلور، په

څلورمه ورځ اته. چیستان وايي چې، «که حوض په دېرشمه ورځ ډکېږي، نو نیمايي حوض به کله ډکېږي؟» ځواب دا دی چې په «۲۹مه ورځ.» یانې د نیم حوض په ډکېدو کې خو به ۲۹ ورځې ولګېږي، خو له هغه وروسته به پوره حوض یوازې په یوه ورځ کې ډک شي. تېر سفر په ۲۹ ورځو کې ووهل شو، راتلونکی سفر به په یوه ورځ کې ووهل شي.

د مشهور امریکايي اقتصادپوه لسټر براؤن په نزد زموږ د مځکې هم همدا حال دی. زموږ مځکه چې اوسمهال شاوخوا ۸ بیلیونه انسانان په کې اوسي، خپلې ۲۹مې ورځې ته رسېدلې ده.

★

## د طبیعت په نظام کې بدلون یوازې مسایل زېږوي

په امریکا کې یو ناول چاپ شوی دی چې نوم یې دی: «تنها مېرمن».

**Herold Robbins, The Lonely Lady.**

**New English Library, London, 1976, pp. 448**

په دې ناول کې د امریکا د پرمختللې ټولنې له یوې کمزورۍ نه پرده اړول شوې ده. هغه دا چې د ښځې بې واده ژوند بالاخره په یوه نه زغمونکي یوازیتوب پای مومي. کیسه یې داسې ده، چې یوه ښکلې او پېغله امریکایي مېرمن د فلمي نړۍ له ځلبل نه متاثره کېږي. دا خپل ګډ ژوند پرېږدي او فلمي اداکارۍ ته مخه کوي. د دې له کماله ډک ښځوالی دې سره مرسته کوي او نومورې ډېر ژر د پرمختګ په زینو هسکو ته لاره لنډه کړي. تر دې چې د شهرت او پرمختګ اسمانونو ته ورسېږي. د دولت، شهرت، عزت او مینه‌والو یو هجوم، او د هر څه افراط یې په شاوخوا کې راټول شي. خو د پرمختګ وروستۍ هسکې ته رسېدا دې ته سکون نه ورکوي. او په یوه تریخ حقیقت (Bitter Truth) یې سترګې وازې شي:

«دا چې شهرت بالاخره پای ته رسېږي. او ملګري بالاخره لاره بېلوي، هغه وخت چې یوه ښځه تر ټولو ډېره اړتیا ورته لري.»

یاده امریکایي مېرمن په خورا حسرت سره وایي:

«حقیقت دا دی چې یوازې یوه ښځه پوهېږي چې یوازیتوب څه دی؟»

د ناول خلاصه دا ده چې ښځه د یوازیتوب ژوند نه شي کولی. د فلمي نړۍ له لارې لویه شتمني لاسته راوړل او ځان بسیا ژوند ته رسېدل په

ظاهر کې ډېر له کشش نه ډک معلومېږي. خو کله چې د ښځې عمر زيات شي، چې کله يې په ملګرو کې د دې لپاره کشش پاتې نه شي، نو دا له يوې نه زغمونکې حادثې سره مخ کېږي. دې سره د پيسو او مادي ساز و سامان انبارونه لګېدلي وي. خو هماغه څه نه وي چې يوه ښځه تر ټولو ډېره اړتيا ورته لري. يانې د ژوند سکون. دې سره هر څه وي مګر هغه انسان نه وي چې ګهيځ او ماښام د دې ملګرتيا وکړي. دا د يوه داسې کور خاونده نه وي چې خپل کور يې وګڼي.

«دا يو داسې پوازيتوب دی چې له ځان بسيا ژوندون او رښتيني انفراديت څخه سر راټوکوي، په يوه داسې ټولنه کې چې هلته يوازې دروغ او فريب ګټور تمامېږي.»

حقيقت دا دی چې د بشري ژوندانه نظام په خورا نازک ترکيب پنځول شوی دی. په دې نظام کې ادنا بدلون هم يوازې په بربادي پای مومي. د جماداتو او نباتاتو د دنيا لپاره موږ ډېر ښه پوهېږو چې د کاميابي راز دا دی چې د فطرت له نظام نه انحراف ونه کړو. دې برخه کې مطلوبې نتيجې ته رسېدل هماغه وخت ممکن کېږي چې د فطرت ټاکلي قالب ته غاړه کېږدو. خو هماغه انسان چې د جماداتو او نباتاتو په برخه کې دې حقيقت ته بشپړ ژمن وي، د خپل ژوند په حصه کې دغه ابدي حقيقت ورنه هېر وي. د ښځې او نر لپاره د فطرت نظام دا دی چې ګډ ازدواجي ژوند سره تېر کړي. د دوی بدني جوړښت، اروايي او کورني مسايل، اجتماعي اړيکې ټول د خپل سمون لپاره ازدواجي ژوند ته اړتيا لري. د ښځې خپلواکي او ځان بسياينه، په خوله ډېر ښکلي ښکاري. خو عملي تجربه يې خورا بوږنوونکې وي. ښځه په خپله ځواني کې ډېر په اسانه د

دغسې نظرياتو په لومه کې لوېږي. خو کله چې لويه شي، نو پويه شي چې د دې لاره غلطه وه. خو دا هغه وخت په دې خبره پوهېږي چې د جبران وخت يې له ګوتو ښوېدلی وي. بيا چې په اوسنۍ دنيا کې د دې لپاره څه پاتې کېږي، هغه يوازې دا وي چې سپې او سويې وساتي او مصنوعي زړه خوشالي ورسره وکړي او بالاخره د حسرت او مايوسي په هديره کې ويده شي.

## د پس از مرګ ژوند علمي ثبوت

په انسبرک (آسټریا) کې د اکتوبر ۱۹۷۸ په لومړنۍ اوونۍ کې یو کانفرانس ترسره شو چې د غربي اروپا او شمالي امریکا زر ساینسپوهان او مذهبي علماء په کې راټول شوي وو. د دې کانفرانس هدف په دې سوال غور کول و چې آیا له مرګ وروسته ژوند شته؟ هغو خلکو چې په دې موضوع یې څېړنې کړې وې، هغوی خپلې څېړنې وړاندې کړې. د کانفرانس د اکثریت غړو رجحان دا و چې له مرګ وروسته هم د ژوند تسلسل دوام کوي. خو ځینې بیا په دې اند وو چې په دې برخه کې چې کوم دلایل راوړل کېږي، هغه د اړوندې ادعا د ثبوت لپاره کافي نه دي. یوه اوونۍ بحث روان و. په پای کې چې کانفرانس کومه مسوده خپره کړه، په هغه کې په لاندې ټکو کې له مرګ نه وروسته د ژوند اقرار شوی و.

**There is enouh evidence now available to suggest that we cannot rule out an after-life.**

**The Times of India, 9-10 Oct., 1978.**

له مرګ نه وروسته ژوند په هکله اوس دومره شواهد راټول شوي دي چې نور یې د احتمال له دایرې څخه نه شو ویستلی.

په دې برخه کې یو مهم کتاب د «رومیو فرار» په نوم خپور شوی دی:

**Dr. Lyall Watson, The Romeo Frorr**

په دې کتاب کې مصنف د هغو خلکو بې شمېره واقعات راټول کړي دي چې ډاکټرانو «مړه» تائید کړي وو، خو هغوی بېرته «ژوندي» شوو او

د خپل «مرگ» تجربې یې بیانې کړې. دا واقعات له بېلابېلو هېوادونو څخه راټول شوي، خو په دې ټولو کې یوه حیرانوونکې یو رنګي لیدل کېږي. مثلاً له «مرگ» وروسته له خپل مړه جسم نه بېل د خپل وجود احساس، یوه تېزه رڼا لیدل، له خپلو مړو عزیزانو سره ملاقات، او داسې نور. د دې یو رنګي له امله پوهان اړ شوي دي چې دا خبره ومني چې خامخا په دې کې څه رښتیا هم شته.

په کانفرانس کې چې کومې مقالې وړاندې شوې، په هغو کې یوه مهمه مقاله د ډاکټر کارلوس اوسیس وه. هغه زر داسې پېښې تحلیل کړې چې د مرونکو کسانو وروستۍ شېبې یې په کې ثبت کړې دي. دا پېښې د امریکا او هندوستان د خلکو دي. د ماحول او جغرافیې په غیرمعمولي توپیر سربېره، د مرونکو په تاثراتو کې خورا یو رنګي وه. مثلاً هر یوه ته په وروستي وخت کې داسې الفاظ تر غوږو شوي چې داسې ورنه ښکاري چې هغوی خپل ځان یوه بل جهان ته د تلو په حال کې ګوري، هلته چې د دوی مړه شوي خپلوان له مخکې لا موجود دي.

په ظاهره داسې ښکاري چې انسان کله مرگ ته بالکل نیږدې ورسېږي، نو د ده له مخې د غیبو پردې په اوښتو شي. دی د بل عالَم په ننداره شي. په دې وخت کې چې د ده له ژبې کوم کلمات راوځي هغه ګواکې د یوه داسې شخص کلمات وي چې د خپل ژوند سفر یې بشپړ کړی او د بلې دنیا په دروازه کې ولاړ دی. د الواقعه سورې په دې بیان کې د دې خبرې تائید په لاس راځي چې کله روح تر مری ورسېږي نو «موږ مرونکي شخص ته زیات نیږدې یو خو تاسې نه وینئ.»

## د خدای یو سنت دا هم دی

چې کله یوه قوم ته پیغمبر راشي او هغه قوم یې خبرې ته غاړه نه ږدي، نو د خدای له لوري دا قوم په ځینې ستونزو کې اچول کېږي تر څو د قبولیت خاصه په کې پیدا شي. «او له تا مخکې مو هم (ډېرو) قومو ته رسولان لیږلي، بیا مو هغوی په کړاوونو او غمونو کې لتاړ کړل چې عاجزۍ سره غاړه کیږدي.» (انعام) دغه ډول ځینې پېښې د نبي صلی الله علیه وسلم په زمانه کې هم پېښې شوې (مؤمنون ٦٧) په صحیحینو کې له عبدالله بن مسعود نه روایت دی چې له نبوت نه څو کاله وروسته چې د مکې د وګړو مخالفت او سرکښي ډېره زیاته شوه، نو رسول الله دعا وفرمایله:

**اللهم اعني عليهم بسبع كسبع يوسف**

ژباړه: خدایه! د دوی په وړاندې د یوسف علیه السلام د اوه کلنې قحطۍ په څېر راسره په اوو کلونو مرسته وکړه.

الله تعالی دعا قبوله کړه او داسې شدیده قحطي راغله چې خلک هډوکو او څرمنو او ان د مردارو خوړلو ته اړ شوو. په دې زمانه کې دا حال و چې کله به یوه شخص اسمان ته سترګې پورته کړې، نو له ډېرې لوږې به پاس یوازې لوګي په سترګو ورتلل. بلاخره ابوسفیان راغی او رسول الله ته یې وویل چې تاسې خو خپلوي پالنی ته بلنه کوئ. ستاسې قوم له لوږې مري. الله نه دعا وغواړئ چې دا مصیبت دې رانه واخلي. قریشو به هم عموم کې همدا خبره کوله چې خدایه! دا عذاب رانه واخله موږ به ایمان راوړو (دخان ١٢). الله د خپل پیغمبر دعا قبوله کړه او د قحطي

حالات ختم شوو. مگر د دوی سرکښي بیا هم پاتې شوه. تر دې چې د بدر د جگړې په بڼه راونیول شوو. (دخان ۱۶)

د قرآن کریم په ۵۲مه سوره کې ویل شوي دي:

او د هغو کسانو دپاره یقیناً له دې پرته بل عذاب هم شته خو زیاتره یې نه پوهیږي. (طور ۴۷) مطلب دا دی چې هغه خلک چې ظالمانه تگلاره غوره کوي، هغوی ته د اخرت له خواروونکي عذاب نه مخکې په دې دنیا کې تنبیهي عذاب ورکول کېږي. دا دنیوي عذاب د دې لپاره وي چې دوی ته د خپل ظلم یوه سپکه غوندې سزا په دې دنیا کې هم ورکول شي تر څو هغوی پند واخلي او ځان اصلاح کړي (**لیذیقهم بعض الذی عملوا لعلهم یرجعون**) خو د زیاتره خلکو حال دا وي چې کله دوی ته دغه ډول دنیوي سزا رسېږي، نو دوی سمدستي تأویل ورته پیدا کوي. هغوی دا سزا د یوه عام سبب پایله گڼي او خپل ځان ته دا تسکین ورکوي چې دا د دوی د ظالمانه تگلارې خدایي سزا نه ده بلکې ځینې نور اسباب لري. دا دنیا د امتحان ځای دی. نو دلته هره خدایي نښانه یا سبق چې ظاهرېږي، هغه د معمولي پېښو په پرده کې ښکاره کېږي. او دغه پرده یو ځل بیا د خلکو لپاره فتنه گرځي. هغوی دا سزا د خدای له لوري نه گڼي بلکې د یوې معمولي پېښې په سترگه ورته گوري. هغه علت چې د «بشري پیغمبر» د انکار تر شا و، په هماغه علت دوی «دنیوي پېښه» هم له پامه غورځوي.

## دا دومره ورانی ولې دی؟

په دنیا کې ورانی ولې دی؟ د دې یوازې یو علت دی. دلته هېڅ داسې ځواک نشته چې خلک سل سلنه په خپلو منګولو کې تم کړي. هر ځواک، که حکومت وي یا قانون یا بل څه، د هغه واک او کنټرول په یوه حد کې پای ته رسېږي او له هغه نه وروسته د انسان خپله اراده او اختیار پیلېږي. انسان چې سل سلنه په خپل واک کې ټینګولی شي، هغه له دې دوو نه یو کېدی شي ـــــــ خدای یا د انسان خپله اراده.

اخرت د الله تعالی د ګرفت د څرګندېدو مقام دی. او دنیا د انساني ارادې د ګرفت مقام. په اخرت کې به ټول انسانان نېغ په نېغه د خدای په بشپړ ګرفت کې راشي. په ادنا درجه کې به هم چاته کوم اختیار پاتې نه شي. همدا کیفیت په اوسنۍ دنیا کې هم الله تعالی ته مطلوب دی. هغه پېښه چې په اخرت کې نېغه په نېغه د خدای له لوري راتلونکې ده، همدا به په دې دنیا کې په خپله اراده په خپل ځان پلي کوو. همدا ایمان دی. جنت د همدې لپاره دی چې د دنیا په ژوند کې په خپله اراده خپل ځان سل سلنه د الله ګرفت ته وسپارل شي. او هغه وګړي چې په اخرت کې به د خدای په ګرفت کې راځي، د هغوی په ګرفت کې راتلل به هغوی ته هېڅ ګټه ونه رسوي. په هغه ورځ خو به د کایناتو د خاوند له لوري د باغي او سرکښو انسانو د نیولو ورځ وي. دا نیول به یوازې د دې لپاره وي چې دغه ډول خلک جهنم ته وغورځول شي. او دغه نیول به یې په هېڅ درجه کې په درد ونه خوري.

دا خبره داسې هم کولی شو چې اسلام نوم دی خپل ځان له واقعیت سره د عیارولو. دا یو واقعیت دی چې په دې کاینات کې هر ډول اختیار

او اقتدار یوازې خدای ته حاصل دی. انسان چې ظاهرا کوم اختیار لري، هغه خو بس لنډمهالی دی او د مرگ په وخت کې په بشپړ ډول ورنه اخیستل کېږي. د الله په مقابل کې خپل دغه عاجزانه حیثیت منل او خپل ځان همه تن هغه سره عیارول اسلام دی. چا چې د غیب په حالت کې په خپله اراده دا کار وکړ، هغه جنتي دی او هغه چې د خدای له ظاهرېدو وروسته یې د دې خبرې اعتراف وکړ، د هغه لپاره له ابدي رسوایي ماسوا هېڅ هم نشته:

**یَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ. وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ. هَذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ. مَنْ خَشِيَ الرَّحْمَن بِالْغَيْبِ وَجَاء بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ. ادْخُلُوهَا بِسَلامٍ ذَلِكَ يَوْمُ الْخُلُودِ. لَهُم مَّا يَشَاؤُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ (ق ۳۰-۳۵)**

هغه ورځ چې جهنم ته ووایو: ایا ډک شوې؟ او هغه به وایي: ایا څه نور شته؟ او متقیانو ته به جنت رانیږدې کړی شي (هېڅ) لرې به نه وي. دا هغه څه دي چې وعده به یې درسره کېدله، د هر راګرځېدونکي (الله ته) او (شریعت) ساتونکي دپاره. څوک چې په غیبو له رحمانه وېرېدلی او په راګرځېدونکي زړه (الله ته) راغلی وي. (ورته وبه ویل شي) په سلامتۍ سره ورننوځئ. دا د همېشه اوسېدو ورځ ده. دوی دپاره به هلته څه چې غواړي هغه وي او موږ سره لا زیات هم شته.

**پای**